**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**
**د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت**
د رسنيو په چارو کې حقوقي مشاوريت

# د ټوليزو رسنيو د قانون د تعديل مسوده

۱۳۹۱

| د ټولیزو رسنیو قانون | د ټولیزو رسنیو د قانون د تعدیل مسوده<br>( دغه متن په رسنیو کې د ټولیزو رسنیو د قانون د خپرې شوې مسودې د نظرغوښتنې پربنسټ چمتو شوي دی) | توضیحات |
| --- | --- | --- |
| **لومړی فصل**<br>**عمومي حکمونه** | **لومړی څپرکی**<br>**عمومي حکمونه** | |
| **<u>مبنی</u>**<br>لومړی ماده:<br>دغه قانون داسلام د سپیڅلي دین داصولو او حکمونو له په پام کې نیولو او داساسي قانون دڅلور دیرشمي مادې له حکم سره سم او دبشر دحقوقو دنړیوالي اعلامیې نولسمي مادې ته په پام سره دفکر اوبیان د آزادۍ دحق دتامینولو او په هیوادکې د ټولنیزو رسنیو دفعالیت د تنظیمولو په مقصد وضع شوی دی . | **<u>مبنی</u>**<br>**لومړی ماده:**<br>دغه قانون داسلام د سپیڅلي دین د اصولو او حکمونو له په پام کې نیولو او داساسي قانون دڅلور دیرشمي مادې له حکم سره سم او د سیاسي او مدني حقونو د نړیوال تړون د نولسمي مادې ته په پام سره دفکر اوبیان د آزادۍ دحق دتامینولو او په هیوادکې د ټولنیزو رسنیو او رسنیزو بنسټونو دفعالیت د تنظیمولو په مقصد وضع شوی دی . | |
| **<u>موخه</u>**<br>**دوه یمه ماده:**<br>ددغه قانون موخې عبارت دی له:<br>۱_ دفکر اوبیان دآزادۍ دحق ملاتړ او تضمین.<br>۲_دژورنالستانو دحقوقو ملاتړ او درسنیو د آزاد فعالیت دشرایطو تامینول .<br>۳_دازادو، خپلواکو اوکثرت غوښتونکو ټولنیزورسنیو دوسایلو رواجول او پرمختیا.<br>٤_ دهیواد د اتباعو دفکر او احساس د څرګندولو او دوینا، لیکنې، رسم، تصویر، په فیته کې د ثبتولو، تمثیل، حرکت او نورو علمي، ادبي ، هنري او چاپ او خپرولو د پدیدو په واسطه په عادلانه توګه دحقایقو دانعکاس دمناسبو زمینو برابرول .<br>۵- داسلام دسپیڅلي دین حکمونو او اصولو ته په پام سره دبشر دحقوقو په | **<u>موخې</u>**<br>**دویمه ماده:**<br>ددغه قانون موخې عبارت دی له:<br>۱- دفکر اوبیان دآزادۍ دحق ملاتړ او تضمین.<br>۲- دژورنالستانو دحقوقو ملاتړ او درسنیو او رسنیزو بنسټونو د آزاد فعالیت دشرایطو تامینول .<br>۳-د آزادو، خپلواکو اوکثرت غوښتونکو ټولیزو رسنیو دوسایلو رواجول او پرمختیا.<br>٤- دهیواد د اتباعو دفکر او احساس د څرګندولو او دوینا، لیکنې، رسم، تصویر، په فیته کې د ثبتولو، تمثیل ، حرکت او نورو علمي، ادبي ، هنري او چاپ او خپرولو د پدیدو په واسطه په عادلانه توګه دحقایقو دانعکاس دمناسبو زمینو برابرول .<br>۵- داسلام دسپیڅلي دین اصولو او حکمونو او د هیواد نافذو قوانینو ته په پام سره، دبشر دحقوقو په نړیوالو سندونو کې مسجل دبیان او ټولنیزو رسنیو داصل په پام کې نیول .<br>٦- دټولیزو رسنیو د وسایلو له سالمي ودې سره | |

| | | |
|---|---|---|
| نړیواله اعلامیه کې مسجل دبیان او ټولنیزو رسنیو داصل په پام کې نیول .<br>٦- دټولیزو رسنیو د وسایلو له سالمې ودې سره د مرستې په منظور په داسې ډول چې وکولای شي په هیواد کې د صحیحو خبرونو، اطلاعاتو، زده کړې او روزنې د خپرولو او دعلم او ثقافت دغوړیدو اغیزمن وسایل وي، دخلکو نظریې له ژورنالستیکې معیارونو، اصولو او ارزښتونو ( صداقت، ناپلوي او توازن ) سره سم منعکس کړي . | دمرستې په منظور په داسې ډول چې وکولای شي په هیواد کې د صحیحو خبرونو، اطلاعاتو، زده کړې او روزنې د خپرولو او دعلم او ثقافت دغوړیدو اغیزمن وسایل وي، دخلکو نظریې له ژورنالستیکې معیارونو، اصولو او ارزښتونو ( صداقت، ناپلوي او توازن ) سره سم منعکس کړي . | |
| **اصطلاح ګانې:**<br>**دریمه ماده :**<br>په دې قانون کې لاندنې اصطلاح ګانې دغه مفاهیم لري :<br>١_ رسنۍ: له لاندنیو وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره دپیغام ، معلوماتو او اطلاعاتو دلیږدونې وسیله ده .<br>_ بریښنایي رسنۍ : راډیو ، ټلویزیون ، کیبلي شبکه او انټرنټ .<br>_ چاپي رسنۍ: ورځپاڼه، جریده ( اووه نیزه ) پنځلس ورځنې خپرونه ، میاشتنۍ ، ګاهنامه ( تقویم ) ، فصل نامه ، کلنې ، پوستر او خبرنامه ) .<br>٢_ په دې قانون کې ټولیزې رسنۍ په لاندې ډولونو ویشل کیږي :<br>_ عامه رسنۍ: هغه رسنۍ ده چې په عامه خلکو پورې اړه لري او د دولت ، داعلانونو دخپرولو او د خدمتونو د وړاندې کولو له لارې تمویلیږي .<br>_ خصوصي رسنۍ: هغه رسنۍ ده چې په حقیقي اشخاصو، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي سازمانونو پورې اړه لري او دهغو له خوا سمبال او تمویلیږي .<br>٣_ ژورنالیست:هغه حرفوي اومسلکي شخص دی چې درسنیوله لارې خپره نیز مواداو محتوي ( منځپانګه )، برابر او وړاندې کوي .<br>٤_ مطبعه : هغه اقتصادي او تخنیکي | **اصطلاح ګانې:**<br>**دریمه ماده :**<br>په دې قانون کې لاندنې اصطلاح ګانې دغه مفاهیم لري :<br>١- **رسنۍ**: له لاندنیو وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره دپیغام، معلوماتو او اطلاعاتو دلیږدونې وسیله ده .<br>- **الکترونیکی رسنۍ** : راډیو، ټلویزیون، کیبلي شبکه او انټرنټ ؛<br>- **چاپي رسنۍ**: ورځپاڼه، جریده ( اووه نیزه ) پنځلس ورځنې خپرونه، میاشتنۍ، مهالنۍ ( تقویم ) ، درې میاشتنۍ، کلنې، پوستر او خبرنامه ) .<br>٢- په دې قانون کې ټولیزې رسنۍ په لاندې ډولونو ویشل کیږي :<br>- **عامه رسنۍ**: هغه رسنۍ ده چې په عامه خلکو پورې اړه لري او د دولت، داعلانونو دخپرولو او د خدمتونو د وړاندې کولو او مرستو له لارې تمویلیږي .<br>- **خصوصي رسنۍ**: هغه رسنۍ ده چې په حقیقي او حکمي اشخاصو پورې اړه لري او ددې قانون د حکمونو له مخې دهغو له خوا سمبال او تمویلیږي .<br>٣- **رسنیزبنسټونه**: مطبعه، خبري او د اطلاع رسانۍ آژانسونه او د رسنیو د تولید سازمانونه او خپرندویه مؤسسې، په دې قانون کې د رسنیزو بنسټونو په نوم یادیږي.<br>٤- **ژورنالیست**:هغه حرفوي او مسلکي شخص دی چې درسنیوله لارې خپرنیز مواد او محتوي ( | په اصطلاحاتو کې دارالترجمه حذف شوې او د رسنیز بنسټونه، انټرنیټ پاڼه، او مدني ټولنه په تعریفونو کې ورزیات شوي دي. |

| | | |
|---|---|---|
| دستګاه ده چې چاپي خدمتونه سرته رسوي .<br>۵_ طابع: هغه حقیقي یا حکمي شخص دی چې دملکیت پربنسټ یا دمالک په استازیتوب دمطبعې د چارو متصدي وي.<br>٦_ ناشر ( خپرونکي ): هغه حقیقي یا حکمي شخص دی چې دغیر موقوتو آثارو دچاپولو او خپرولو اجازه لري .<br>٧ _ خپرول : د ټولنیزو رسنیو له لارې دپیغام اوخبر دلیږدونې عملیه ده .<br>٨ _ دفلم دتولید مؤسسه : هغه ټولنه ده چې دخپلې اساسنامې اوموخو په رڼا کې مستند او سینمایي فلمونه او عکس او سلاید تولیدوي .<br>٩ _ خپره نیزه مؤسسه: هغه حکمي شخصیت دی چې داساسنامې له مخې تاسیس او دبرېښنایي، چاپي، موقتو او غیر موقوتو رسنیو خپرونې ، له خپلو موخو سره سم چاپ او خپروي.<br>١٠_ دژورنالیزم روزنیزه ټولنه : هغه ټولنه ده چې په لنډ مهاله یا اوږد مهاله توګه دژورنالیزم په مسلکي روزنې لاس پورې کوي .<br>١١_ دارالترجمه: هغه حکمي مؤسسه ده چې له اساسنامې سره سم حق لري مطالب او مضمونونه له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته وژباړي .<br>١٢_ د خبر رسونې اژانس: هغه حکمي شخصیت دی چې داړیکبو په برخه او داطلاعاتو په راټولولو او رسولو کې فعالیت کوي .<br>١٣_ دتبلیغاتو او اعلاناتو شرکت: هغه سوداګریز حکمي شخصیت دی چې له اساسنامې سره سم په تبلیغاتو او اعلانونو لاس پورې کوي .<br>١٤_ د نسخې اخیستنې حق ( کاپي رایټ : د ثبت شویو خپرونو د معنوي مالکیت او دامتیاز دحق لرل دې چې له منل شویو معیارونو سره سم دجلا قانون | منځپانګه )، برابر او وړاندې کوي.<br>۵- **مطبعه:** هغه اقتصادي او تخنیکي دستګاه ده چې چاپي خدمتونه سرته رسوي .<br>۶ - **خپرول:** د ټولیزو رسنیو له لارې دپیغام اوخبر دلیږدونې عملیه ده .<br>۷ - **خپره نیزه مؤسسه:** هغه حکمي شخصیت دی چې ددې قانون د حکمونو له مخې الکترونیکي، چاپي، موقتو او غیر موقوتو رسنیو خپرونې، له خپلو موخو سره سم چاپ او خپروي.<br>۸- **د خبر رسونې آژانس:** هغه حکمي شخصیت دی چې داړیکیو، داطلاعاتو په راټولولو او رسولو په برخه کې فعالیت کوي .<br>۹- د مؤلف حق **( کاپي رایټ):** د معنوي مالکیت دحق لرل دي چې له منل شویو نړیوالو معیارونو سره سم دجلا قانون په واسطه تنظیمیږي .<br>۱۰- **دامتیاز خاوند:** هغه حقیقي یا حکمي شخص دی چې د رسنیو او رسنیزو بنسټونو په تاسیس او تدویر لاس پورې کوي .<br>۱۱- **مسؤول مدیر:** هغه شخص دی چې په باالفعل ډول د رسنیو او رسنیزو بنسټونو پورې داړوندو خپرنیزو چارو مسؤولیت پرغاړه لري .<br>۱۲- **راډیو:** د ټولنیزو اړیکو او خبر رسونې سمعي وسیله ده .<br>۱۳ - **تلویزیون:** د ټولیزو اړیکو او خبر رسونې سمعي او بصري وسیله ده .<br>۱۴- **کیبلي شبکه:** د ملي او نړیوالو خپرونو د رسېدنې وسیله ده.<br>۱۵- **اعلانونه:** حقیقي او حکمي اشخاصو ته دیو ډول سمعي او بصري خدمتونو وړاندې کول دي چې په الکترونیکي او چاپي ټولیزو رسنیو کې دپیسو او یا متقابلو خدمتونو په بدل کې ترسره کیږي .<br>۱۶- **مرسته :** دحقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا دهر ډول مرستې اجرا ده چې دټولیزو رسنیو دمادي یا معنوي پیاوړتیا لپاره ترسره کیږي .<br>۱۷- **مدني ټولنه:** د نادولتي بنسټونو، ټولنو او ټولنیزو جوړښتونو هغه ټولګه ده چې په خپلواکه توګه او ددولت او سیاسي واک او خصوصي سکټور له اداني جلا له مدني لارو چارو د سیاسي واک د جوړښت، د دولتي بنسټونو پر کړنو د | |

| | | |
|---|---|---|
| په واسطه تنظیمیږي .<br>۱۵_ دامتیاز خاوند: هغه حقیقي یا حکمي شخص دی چې دبرېښنايي ، چاپي ټولنیزو رسنیو ، دژورنالیزم د روزه نیز مرکز، مطبعي ، خپره نیزې مؤسسې، دارالترجمې دخبر رسونې اژانس، دفلم جوړولو مؤسسې او دتبلیغاتو او اعلانونو دشرکت په تاسیس او تدویر لاس پورې کوي .<br>۱۶_ مسوول مدیر: هغه شخص دی چې په باالفعل ډول ددغې مادې په ( ۱۵) جز کې په درج شویو مؤسسو پورې داړوندو خپره نیزو چارو مسوولیت پرغاړه لري .<br>۱۷ _ راډیو: د ټولنیزو اړیکو او خبر رسونې سمعي وسیله ده .<br>۱۸ _ ټلویزیون: د ټولنیزو اړیکو او خبر رسونې سمعي او بصري وسیله ده .<br>۱۹ _ کېبلي شبکه : سمعي او بصري ټولنیزه رسنۍ ده چې ګډونوالو ته ملي اوبین المللي اطلاعاتي ، ښوونیز ، روزنیز ، فرهنګي او تفریحي پروګرامونه وړاندې کوي .<br>۲۰-اعلانونه: حقیقي او حکمي اشخاصو ته دیو ډول سمعي او بصري خدمتونو وړاندې کول دي چې په برېښنايي او چاپي ټولیزو رسنیو کې دپیسو او یا متقابلو خدمتونو په بدل کې ترسره کېږي .<br>۲۱- **مرسته:** د حقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا دهر ډول مرستې اجرا ده چې دټولیزو رسنیو دمادي یا معنوي پیاوړتیا لپاره ترسره کېږي . | څارنې، د بشري حقونو د وضعیت د ښه والي او د قانون د واکمنۍ د پیاوړتیا په چاره کې اغېزمنه ونډه لري. | |
| **دوه یم فصل**<br>**حقوق او مکلفیتونه** | | |
| **<u>د فکر او بیان آزادی:</u>**<br>**څلورمه ماده :**<br>(۱) هر شخص د فکر اوبیان دآزادۍ حق لري.<br>ددولتي چاراوکو له خوا له لاس وهنې، محدودیت او تهدید پرته د قانون دحکمونو | **<u>د فکر او بیان آزادی:</u>**<br>**څلورمه ماده :**<br>(۱) هر شخص د فکر او بیان دآزادۍ حق لري.<br>ددولتي چاراوکو له خوا له لاس وهنې، محدودیت او تهدید پرته د قانون دحکمونو په حدودو کې د معلوماتو، اطلاعاتو او نظریو غوښتنه، ترلاسه | |

| | | |
|---|---|---|
| په حدودو کې د معلوماتو، اطلاعاتو او نظريو غوښتنه، ترلاسه کول او ليږدول په دې حق کې شامل دي. په دې حق کې دمعلوماتو دخپرولو، ويشلو او ترلاسه کولو دوسايلو آزاد فعاليت هم شامليږي . ( ۲) دولت، دټوليزو رسنيو د آزادي ملاتړ ، پياوړي او تضمينوي يي . ددولت او دولتي ادارو په ګډون هيڅ حقيقي يا حکمي شخص نشي کولای د خبري يا معلوماتي رسنيو آزاد فعاليت منع، تحريم، سانسور يا محدود کړي او يا په بل ډول د ټوليزو او معلوماتي رسنيو د خپرونو په چارو کې لاس وهنه وکړي خو د دغه قانون له حکمونو سره سم . | کول او ليږدول په دې حق کې شامل دي. په دې حق کې دمعلوماتو دخپرولو ، ويشلو او ترلاسه کولو دوسايلو آزاد فعاليت هم شامليږي . ( ۲) دولت، دټوليزو رسنيو د آزادئ ملاتړ، پياوړي او تضمينوي يي . ددولت او دولتي ادارو په ګډون هيڅ حقيقي يا حکمي شخص نشي کولای د خبري يا معلوماتي رسنيو ازاد فعاليت منع ، تحريم ، سانسور يا محدود کړي اويا په بل ډول د ټوليزو او معلوماتي رسنيو دخپرونو په چارو کې لاس وهنه وکړي خو ددغه قانون له حکمونو سره سم . | |
| **دمعلوماتو غوښتل**<br>**پنځمه ماده :**<br>هر شخص حق لري، معلومات وغواړي او ترلاسه يي کړي، دولت د هيواد داتباعو له غوښتني سره سم، هغه معلومات چي غوښتل کيږي، دهغوی په واک کي ورکوي، خو داچي غوښتل شوي معلومات محرم وي او افشا کول يي دهيواد امنيت، ملي ګټي او ځمکني بشپړتيا په خطر کي واچوي اويا د نورو حقوقو ته زيان ورسوي. | **داطلاعاتو غوښتل**<br>**پنځمه ماده :**<br>ژورناليستان و رسنئ حق لري، اطلاعات وغواړي او ترلاسه يي کړي، دولت د ژورناليستانو او رسنيو له غوښتني سره سم، هغه اطلاعات چي غوښتل کيږي، دهغوی په واک کي ورکوي ، خو داچي غوښتل شوي اطلاعات محرم وي او افشا کول يي دهيواد امنيت، ملي ګټي او ځمکنی بشپړتيا په خطر کي واچوي او يا د نورو حقوقو ته زيان ورسوي. | د ټوليزو رسنيو په قانون کي اطلاعاتو د لاس رسي حق بايد ژورناليستانو او رسنيو ته تسجيل کړای شي ځکه د هيواد د اساسي قانون د پنځوسمي مادې له مخي اطلاعاتو د لاس رسي حق د قانون د حکمونو په حدودو کي ټولو اتباعو ته منل شوی، پردې بنسټ په دې برخه مي د قانون جلا طرحه تېرکال د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري د عدليې وزارت د تقنيني پړاوونو د تېرولو لپاره استول شوې ده. |
| **قانوني ملاتړ**<br>**شپږمه ماده:**<br>(۱) ژورناليستان دانتقادي رپوټونو اونظريو په خپرولو پوري داړوندو مسلکي فعاليتونو په ترسره کولو کي تر قانوني ملاتړ لاندي نيول کيږي .<br>(۲) ژورناليستان حق لري د خپلو معلوماتي سرچينو له څرګندولو څخه ډډه وکړي خو داچي واکمني محکمي دهغو د څرګندولو په هکله حکم کړي وي . | **خپرنيزه آزادي، د انډول رعايتول او د مطالبو ساتنه**<br>**شپږمه ماده:**<br>(۱) ټوليزې رسنئ که چاپي او الکترونيکي وي، د دې قانون د حکمونو په رعايت، د خپرنيزو مطالبو په چمتو کولو او وړاندي کولو کي آزادي دي.<br>(۲) ټوليز رسنئ د سياسي لورو او شخصيتونو او نورو حقيقي او حکمي شخصيتونو ترمنځ د يوبل پر وړاندي د موضع نيوني په برخه کي ددې قانون د حکمونو له مخې انډول په پام کي نيسي او د لورو نظرونه په منصفانه او بې طرفه توګه | دغه ماده د نافذ قانون د ۲۱، ۲۲ او ۲۳مادو څخه رامنځ ته شوې ده، څرنګه چې يادې شوې مادې د خصوصي رسنيو او هغه هم د راډيوګانو او ټلويزيونونو لپاره تسجيل شوي پردې بنسټ چې ټولې رسنئ بايد نشراتي آزادي ولري، انډول رعايت کړي او خپاره شوي مطالب وساتي نو اړينه وه چې په دويم څپرکي کي تنظيم شي. |

| | | |
|---|---|---|
| | خپروي.<br>(۳) ټولیزې رسنۍ، خپاره شوي مطالب لږترلږه تر ۹ میاشتو پورې په خپل اړوند آرشیف کې ساتي، خو داچې په دې قانون کې بل ډول حکم شوی وي. په هغه صورت کې چې یاد شوي مطالب تر شکایت لاندې ونیول شي، د دعوې تر پایه هغه وساتي. | |
| **د ځواب ورکولو حق**<br>**اوومه ماده :**<br>(۱) هر حقیقي یا حکمي شخص چې دیوې ټولیزې رسنۍ له خوا پرې تعرض وشي ، دهغه شخصیت، اعتبار او مادي ګټي زیانمني شي، حق لري ، دهغه د رد ځواب به هم هغې رسنۍ کې ورکړي .<br>(۲) اړونده رسنۍ دې له ځنډ پرته ځواب په وړیا توګه دهم هغې رسنۍ په وروستۍ ګڼه یا خپرونه کې خپور کړي .<br>(۳) ورکړل شوي ځواب دې له جرمي ماهیت څخه پاکې وي او په هغې رسنۍ کې په ادعا شوي موضوع پورې منحصر وي، او په لیکنۍ بڼه دې د زیانمن او یا دهغه د وکېل په لاسلیک دټولیزې رسنۍ مسوول مدیر ته وسپارل شي .<br>(٤) د ځواب دنه خپرولو په هکله هر ډول شکایت، اړوند کمیسیون ته راجع کېږي .<br>(٥) د ملي شورى دغونډو او علني محکمو د بهیر د رپوټ په هکله د ځواب حق صدق نه کوي ، خو داچې دنومړو غونډو بهیر دیوې رسنۍ له خوا تحریف شوي وي . | **قانوني ملاتړ**<br>**اوومه ماده:**<br>(۱) ژورنالیستان د انتقادي رپوټونو او نظریو په خپرولو پورې داړوندو مسلکي فعالیتونو په ترسره کولو کې تر قانوني ملاتړ لاندې نیول کېږي.<br>(۲) ژورنالیستان حق لري دخپلو معلوماتي سرچینو له ځرګندولو څخه ډډه وکړي خو داچې واکمنې محکمې دهغو د ځرګندولو په هکله حکم کړي وي، په دې شرط چې:<br>۱- د اطلاعاتي سرچیني افشا کول د جنحې او جنایاتو جرمونو ته د رسیدګۍ او یا په جزایي پېښو کې د تورن د دفاع په موخه اړین ګڼل شوي وي؛<br>۲- تر غور لاندې قضیه کې د مجرمیت تثبیت، له نورو لارو ناشونی وي؛<br>۳- عامه ګټې او د بشر حقوقو موازین یې ایجاب کړي.<br>۴- په محکمه کې د تورن د دفاعیې له اورولو وروسته ترسره شوي وي.<br>(۳) که ددې مادې په لومړۍ فقره کې د راغلي اطلاعاتي سرچیني په افشا سره نظر وړ سرچیني ژوند یا خوندیتوب په خطر کې کېږي، په هغه صورت کې، د سرچیني د افشا حکم جواز نلري. | د پیشنهادي طرحې اوومه ماده، د نافذ قانون د شپږمې مادې متن دی . ددې مادې په (۲) فقره کې درې جزونه او (۳) فقره ورزیاته شوې ده. |
| **د ځواب نه خپرول**<br>**اتمه ماده:**<br>ټولیزې رسنۍ په لاندې مواردو کې کولای شي دځواب له خپرولو څخه ډډه وکړي: | **د ځواب ورکولو حق**<br>**اتمه ماده:**<br>(۱) هر حقیقي یا حکمي شخص چې د یوې ټولیزې رسنۍ له خوا پرې تعرض وشي، دهغه شخصیت، اعتبار او مادي ګټې زیانمنې شي، حق | د پیشنهادي مسودې اتمه ماده د نافذ قانون اوومه ماده ده. |

| | | |
|---|---|---|
| ۱- ځواب دبحث له موضوع څخه بهر وي<br>۲- ځواب له نوي ورځو ځنډ وروسته رسنۍ ته رسيدلي وي . | لري، دهغه د رد ځواب به هم هغې رسنۍ کې ورکړي .<br>(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په راغلي حالت کې، اړونده رسنۍ مکلفه ده، له ځنډ پرته ځواب په وړيا توګه دهم هغې رسنۍ په وروستۍ ګڼه يا برنامه کې خپور کړي .<br>(۳) ورکړل شوي ځواب دې له جرمي ماهيت څخه پاکې وي او په هغې رسنۍ کې په ادعا شوي موضوع پورې منحصر وي، او په ليکلې بڼه دې د زيانمن او يا دهغه د وکيل په لاسليک دټوليزې رسنۍ مسؤول مدير ته وسپارل شي .<br>(٤)د ځواب دنه خپرولو په هکله هر ډول شکايت ، اړوند کميسيون ته راجع کيږي .<br>(٥) د ملي شورى دغونډو او علني محکمو دبهير د رپوټ په هکله د ځواب حق صدق نه کوي، خو داچې د نوموړو غونډو بهير د يوې رسنۍ له خوا تحريف شوي وي . | |
| **صنفي جوړښت**<br>**نهمه ماده :**<br>ژورناليستانو او دټوليزو رسنيو نور غړي کولاى شي داړوندو صنفي ګټو د دفاع په موخه دقانون له حکمونوسره سم خپلواکې صنفي اتحاديې، ټولنې او مرکزونه جوړ کړي . | **د ځواب نه خپرول**<br>**نهمه ماده :**<br>ټوليزې رسنۍ په لاندې مواردو کې کولاى شي دځواب له خپرولو څخه ډډه وکړي:<br>۱- ځواب د بحث له موضوع څخه بهر وي؛<br>۲- ځواب له نوي ورځو ځنډ وروسته رسنۍ ته رسيدلي وي. | د پيشنهادي طرحې نهمه ماده د نافذ قانون اتمه ماده ده. |
| **دريم فصل**<br>**د رسنيو د تاسيس حق** | | |
| **دچاپي رسنيو تاسيس**<br>**لسمه ماده :**<br>(۱) دهيواد اتباع ، سياسي ګوندونه ، ټولنيز سازمانونه، کورنۍ غير دولتي مؤسسې او د بهرنيو هيوادونو پناه غوښتونکي او دولتي اداري کولاى شي ددغه قانون له حکمونوسره سم چاپي رسنۍ تاسيس کړي .<br>(۲) په افغانستان کې بهرنۍ سياسي | **صنفي جوړښت**<br>**لسمه ماده :**<br>ژورناليستانو او دټولنيزو رسنيو نور غړي کولاى شي داړوندو صنفي ګټو د دفاع په موخه دقانون له حکمونوسره سم خپلواکې صنفي اتحاديې، ټولنې او مرکزونه جوړ کړي . | د پيشنهادي طرحې لسمه ماده د نافذ قانون نهمه ماده ده. |

| | | |
|---|---|---|
| | | نمایندګي ددیپلوماتیکو موازینو په پام کې نیولو سره کولای شي د خبرنامې په چاپولو او خپرولو لاس پورې کړي . <br>( ۳) دنړیوالو اوبین الحکومتي مؤسسو نمایندګۍ کولای شي دخپل کار په ساحو کې داړوندو وزارتونو او ټولنو په مخکني خبرتیا سره په علمي څېړنو او دموقوتو او غیر موقوتو خپرونو په چاپولو او خپرولو لاس پورې کړي . <br>( ٤) رپوټونه او علمي څېړنې دې د اړوندو وزارتونو او ټولنو دمخکني خبرتیا په اساس صورت ومومي . <br>( ٥) هغه بهرني غیر دولتي مؤسسې (NGOS) چې دقانون له حکمونوسره سم جوړې شوې وي ، په هغه صورت کې چې مسوول مدیریې دافغانستان له اتباعو څخه وي کولای شي دخپل تخصصي کار په ساحه کې داطلاعاتو او فرهنګ وزارت داجازې له ترلاسه کولو وروسته ، دموقوتو او غیر موقوتو خپرونو په خپرولو لاس پورې کړي . <br>( ٦ ) د دغه قانون ددریمې مادې په دوه یم جزء کې درج شوي رسنۍ له د مخه ثبت څخه پرته تاسیس او خپریدلای شي . <br>په هغه صورت کې چې خپرونه مخکې له ثبت څخه خپره شوي وي ، دامتیاز خاوند مکلف دی چې د دوو اوونیو په ترڅ کې خپله خپرونه ددغه قانون له حکمونوسره سم ثبت کړي . |
| د پیشنهادي مسودې د یوولسمې مادې متن د نافذ قانون د څلیرویشتمې مادې کټ مټ متن دی. <br><br>د نافذ قانون د یوولسمې مادې متن د پیشنهادي مسودې په نهه څلویښتمه ماده کې په تعدیل شوې بڼه شتون لري. | **<u>دادعا حق</u>** <br>**یوولسمه ماده:** <br>که چیرې حقیقي یا حکمي شخص په لیکلي توګه ادعا وکړي چې حق یې دیوې ټولیزې رسنۍ په پروګرام کې ضایع شوی دي کولای شي هغه په خپل مالي لګښت دهغې رسنۍ له ارشیف څخه تکثیر او د ګټې اخیستنې وړ وګرځوي. | **<u>دیتې او نورو مشخصاتو درلودل</u>** <br>**یوولسمه ماده :** <br>چاپي رسنۍ دخپروني د نوم، مشخصې پتې، د مطبعې د نوم او ځای، دامتیاز دخاوند او مسئول مدیر نومونو او دهغې دخپرېدو د نیټې درلودونکې وي . |
| | | **څلورم فصل** <br>**د بریښنایي رسنۍ تاسیسول** |

| | | |
|---|---|---|
| **دبریښنایی رسنۍ تاسیسول:**<br>**دولسمه ماده :**<br>دهیواد اتباع، سیاسي ګوندونه ، ټولنیز سازمانونه، غیر دولتي مؤسسې اوکورني خصوصي شرکتونه او دولتي اداري کولای شي ددغه قانون له حکمونوسره سم بریښنایي رسنۍ تاسیس کړي . | **د ژورنالیستانو حقوق او امتیازات**<br>**دولسمه ماده:**<br>(۱) د خصوصي رسنیو او رسنیزو بنسټونو ژورنالیستان او کارکوونکي د کار د قانون د حکمونو په رعایت، د حقوقو او امتیازاتو مستحق دی. د خصوصي رسنیو او رسنیزو بنسټونو د ژورنالیستانو او کارکوونکو حقوق، امتیازونه او مکلفیتونه او د هغوی په استخدام، د کار د قرارداد د عقد او فسخې پورې مربوط مسایل د اړوند تقنیني سند په واسطه تنظمیږي.<br>(۲) که چېرې د یوې ټولیزې رسنۍ ژورنالیست او یا کارکوونکی د دندې د ترسره کولو او یا د دندې په تړاو خپل ژوند له لاسه ورکړي او په داسې ډول معلول شي چې دده د دندې د ترسره کولو خنډ وګرځي، په داسې مواردو کې دده میرمن او اولادونه او که مجرد وي او کورنۍ خرڅ او خوراک یې پرغاړه وي، پلار او د کورنۍ کوچنیان تر اتلس کلنۍ عمر تر رسېدو پورې، د اړوند تقنیني سند له مخې، مالي مرسته ترلاسه کوي. | د تعدیلي متن کې د دولسمې مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د دولسمې مادې متن د پیشنهادي طرحې په شپاړسمه ماده کې ځای پرځای شوی دی. |
| **عامه بریښنایی رسنۍ**<br>**دافغانستان ملي راډیو تلویزیون**<br>**دیارلسمه ماده :**<br>دافغانستان ملي راډیو تلویزیون دافغانستان په ملت پورې اړوند ټولیزه رسنۍ ده چې داجراییه قوې په چوکات کې دیو مستقل ریاست په توګه فعالیت کوي او بودجه یې دحکومت ، اعلانونو او دخدمتونو د وړاندې کولو له لارې تامنیږي . | **د ژورنالیستانو کاري خوندیتوب**<br>**دیارلسمه ماده:**<br>حکومت دنده لري د ژورنالیستانو د خوندیتوب او امنیت د تامین په برخه کې هاند و هڅه وکړي. که ژورنالیست د رسنیزو چارو په تړاو تر تاوتریخوالی لاندې راشي، د تاوتریخوالي مرتکب د قانون د حکم سره سم، د عدلي او قضایي څارنې لاندې راځي او مجازات کېږي. | د مادې متن په مسوده کې زیات شوی او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د دیارلسمې مادې متن د یودېرشمې مادې په لومړۍ فقره کې په تعدیل شوي بڼه شتون لري. |
| دملي راډیو ټلویزیون داداري موقعیت<br>څوارلسمه ماده :<br>دملي راډیو ټلویزیون مرکزي اداره په کابل ښار کې موقعیت لري او سیمه ییزې اداري یې په ولایاتو کې مستقرې دي . | **د ممنوعه مطالبو خپرول**<br>**څوارلسمه ماده :**<br>د لاندنیوآثارو او مطالبو تولیدول، تکثیرول، چاپول او نشرول په ټولیزو رسنیو او رسنیزو بنسټونو کې جوازنلري:<br>۱- هغه آثار او مطالب چې داسلام دسپېڅلي دین له اصولو او حکمونو سره په ټوپیرکې وي. | د نافذ قانون د پنځه څلوېښتمې مادې منځپانګه د مسودې د حقوقو او مکلفیتونو څپرکي ته په تعدیل شوې بڼه لېږدول شوې ده. |

| | | |
|---|---|---|
| | ۲- هغه آثار او مطالب چې نورو اديانو او مذهبونو ته د سپکاوي لامل وګرځي.<br>۳- هغه آثار اومطالب چې دحقيقي اوحکمي اشخاصو دسپکاوي ، تحقير او د هتک حرمت او يا هغوی ته د افترا لامل شي او د او دهغوی شخصيت اواعتبار زيانمن کړي. .<br>۴- پرته داسلام له سپيڅلي دين څخه د نورو دينونو تبليغول او ترويج.<br>۵- د تاوتريخوالي او د تيري د قربانيانو د هويت اودتصويرونو څرګندول په داسې ډول چې ټولنيز حيثيت يې زيانمن شي .<br>۶- زشت، مستهجن او نفرت زيږوونکي مطالب، هغه مطالب چې د خلکو رواني امنيت زيانمنوي او نور هغه مطالب چې د هېواد نافذو قوانينو منع کړي وي. | |
| **دندې اومکلفيتونه**<br>**پنځلسمه ماده :**<br>دملي راډيو ټلويزيون اداره مکلفه ده خپلې خپرونې داسلام دمبين دين د حکمونو او اصولو په رڼا کې ، دافغانستان دملت له ملي او معنوي ارزښتونو سره سمې عياري کړي او په خپلو خپرونوکې خبر رسونه او د ديني ، علمي ، فرهنګي او اقتصادي ښوونې ، رواني او اخلاقي امنيت تعميمول په پام کې ونيسي . | **متفرقه مکلفيتونه**<br>**پنځلسمه ماده:**<br>(۱) ټوليزې رسنۍ مکلفې دي د اسلام د مبين دين اصول او حکمونه او د افغانستان د ملت ملي او معنوي ارزښتونه او د بشر حقوقو هغه موازين چې د افغانستان اساسي قانون او نړيوالو ژمنو يې څرګند کړي وي، رعايت کړي.<br>(۲) ټوليزې رسنۍ، له اختصاصي رسنيو پرته، په خپلو زده کړه ييزو خپرونو کې ديني، اخلاقي، روغتيايي، دژوند چاپيريال، د فرهنګي ميراثونو د ساتنې، ديوهنې د اهميت او دمخدره توکو دکرکيلې، توليد او مصرف او دمسکراتو داستعمال د زيان او نورو ټولنيزو او بشري حقونو پورې تړلو مسئلو ته ځای ورکړي<br>(۲) راډيو ګانې او ټلويزيونونه، مکلف دي چې دخپلو شبکو له لارې پنځه وخته آذان خپور کړي او دخپلو خپرونو په ترتيب کې داسلامي سپيڅلو ورځو او د روژې د مبارکې مياشتې تقدس په پام کې ونيسي . | د نافذ قانون د پنځلسمې، شلمې او پنځه ويشتمې مادې منځپانګه له تعديل سره يوځای په پنځلسمه ماده تنظيم شوې ده. |
| | **درېيم څپرکی** | |

| | | |
|---|---|---|
| | **د ټولیزو رسنیو او رسنیزو بنسټونو تاسیس** | |
| **<u>ملي اوديني خپروني</u>**<br>**شپاړسمه ماده :**<br>دملي راديو تلويزيون اداره دې د بشپړې ناپلوی له په پام کې نيولو سره دهيواد دملي يو والي دټينګښت، ديني اوملي ارزښتونو دپياوړتيا لپاره خپلې خپروني په داسې توګه تنظيم کړي چې دهيواد د ټولو ميشتو قومونو د فرهنګ، ژبې، ديني اومذهبي عقيدې منعکسوونکي وي . | **د ټولیزو رسنیو تاسیس**<br>**شپاړسمه ماده:**<br><br>(۱) د هېواد اتباع، سیاسي ګوندونه، د مدني ټولنې بنسټونه او ټولنیز سازمانونه، کورنۍ نادولتي مؤسسې، دولتي اداري او د بهرنيو هېوادونو پناه اخيستونکي کولای شي، ددې قانون له حکمونو سره سم، چاپي رسنۍ تاسيس کړي. بهرنۍ نادولتي مؤسسې ( انجوګانې ) چې په افغانستان کې د قانون د حکمونو له مخې فعاليت ترسره کوي، کولای شي د خپل تخصصي کاريه برخه کې چاپي رسنۍ لکه مجلې او خبرنامې ددې قانون له حکمونو سره سم تاسيس او خپرې کړي.<br><br>(۲) د چاپي رسنۍ د امتياز څښتن مکلف دی، د لومړۍ ګڼې له خپرولو وروسته، خپله خپرونه د يوې مياشتې په موده کې ددې قانون د حکمونو له مخې ثبت کړي.<br><br>(۳) د هېواد اتباع، سیاسي ګوندونه، د مدني ټولنې بنسټونه او ټولنیز سازمانونه، نادولتي مؤسسې، کورني خصوصي شرکتونه او دولتي اداري کولای شي ددې قانون له حکمونو سره سم، الکترونيکي رسنۍ تاسيس کړي.<br><br>(۴) د هېواد اتباع، نادولتي مؤسسې او کورني خصوصي شرکتونه کولای شي چې د قانون له حکمونو سره سم، کيبلي شبکې جوړې کړي. | د چاپي او الکترونيکي رسنيو تاسيس په يوه ماده کې تنظيم شوی دی.<br>د نافذ قانون د شپاړسمې مادې متن د مسودې په يودېرشمه ماده کې په تعديل شوي بڼه شتون لري.<br><br>۴ فقره زياته شوې ده. |
| **<u>داضطرار په حالاتوکي درادیو ټلویزیون اداره</u>**<br>**اوولسمه ماده :**<br>داضطرار په حالاتوکي دافغانستان د ملي راديو تلويزيون په بشپړه توګه دجمهور رئيس تر نظر لاندې عمل کوي . | **د رسنیزو بنسټونو د تاسیس حق**<br><br>**اوولسمه ماده:**<br><br>د هېواد اتباع، سیاسي ګوندونه، د مدني ټولنې بنسټونه او ټولنیز سازمانونه، کورني او بهرني شرکتونه او نادولتي مؤسسې او دولتي اداري | په مسوده کې د مادې متن د نافذ قانون د اووه ويشتمې مادې د متن تعديل شوې بڼه ده. |

| | | |
|---|---|---|
| | کولای شي ددې قانون او نورو اړوندو تقنیني سندونو د حکمونو له مخې، رسنیز بنسټونه جوړ کړي. | د نافذ قانون د اوولسمې مادې متن به تعدیل شوې بڼه د یودېرشمې مادې په څلورمه بڼه کې راغلی دی. |
| **د برنامو خوندي کول**<br>**اتلسمه ماده :**<br>دملي راډیو ټلویزیون اداره مکلفه ده تر څو خپلې ټولې ثبت او ضبط شوې خپروني دملي راډیو ټلویزیون په ارشیف کې خوندي کړي . | **د نمایندګۍ تاسیس**<br>**اتلسمه ماده:**<br>(۱) د هغو ټولیزو رسنیو او رسنیزو بنسټونو چې د کار ځای یې له هېواده بهر دی، په دې شرط چې د امتیاز څښتن یې افغان وي، کولای شي چې د هېواد په دننه کې، ددې قانون د حکمونو له مخې، نمایندګي جوړه کړي.<br><br>(۲) بهرنۍ رسنۍ، د نمایندګیو د تاسیس او د فریکونسي د رامنځ ته کولو له لارې، ددې قانون او نورو نافذو تقنیني سندونو له مخې، د بهرنیو چارو وزارت د پېژند لیک او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څخه د فعالیت د جواز لیک له ترلاسه کولو وروسته په خپرونو پیل کوي.<br><br>(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقره کې د راغلیو نمایندګیو مسؤول مدیران هم ددې قانون په اته ویشتمه ماده کې د راغلیو شرطونو لرونکي وي. په بهرنیو پناه اخیستونکو پورې اړوندو چاپي رسنیو پرته، په دغه حکم کې هغه رسنیې او رسنیز بنسټونه هم شامل دي چې د بهرنیو حکمي شخصیتونو له خوا په افغانستان د قانون د حکمونو له مخې فعالیت کوي. | لومړۍ فقره په مسوده کې زیاته شوې ده. د نافذ قانون اتلسمه ماده د مسودې په یودېرشمه ماده کې شتون لري.<br><br>دویمه فقره د نافذ قانون د پنځوسمې مادې تعدیل شوې بڼه ده.<br><br>درېیمه فقره زیاته شوې ده. |
| غیر دولتي بریښنایي رسنۍ<br>نولسمه ماه :<br>دخصوصي راډیواو ټلویزیونونو اداري خپل فعالیتونه ددې قانون دحکمونو په رڼا کې سرته رسوي . | **د تمویل سرچېنې**<br>**نولسمه ماده:**<br>(۱) ټولیزې رسنۍ او رسنیز بنسټونه کولای شي د دې قانون او د هېواد د نافذو تقنیني سندونو د حکمونو له مخې، له لاندې سرچېنو تمویل کړای شي:<br>۱- ددې قانون له حکمونو سره سم، په حقیقي یا حکمي شخصیتونو پورې اړوند اعلانونو، پیغامونو او برنامو خپرول؛<br>۲- له کورنیو حقیقي یا حکمي شخصیتونو څخه د مرستې اخیستل؛<br>۳- له داخلي او نړیوالو مؤسسو څخه د مرستې | د مسودې نولسمه ماده، د نافذ قانون د شپږویشتمې مادې تعدیل شوی متن دی.<br><br>د نافذ قانون د نولسمې مادې متن حذف شوی دی. |

| | | |
|---|---|---|
| | اخيستل؛<br>۴- د بيې په بدل کې حقيقي يا حکمي شخصيتونو ته د مسلکي او تخصصي خدمتونو وړاندې کول.<br>(۲) په سياسي گوندونو پورې تړلې رسنۍ او رسنيز بنسټونه، له بهرنيو سرچينو تمويلېدای نشي.<br>(۳) رسنۍ او رسنيز بنسټونه مکلف دي د تمويل د سرچينو، د عوايدو او د ماليې د ورکړې په برخه کې روڼ مالي سيستم رامنځ ته کړي. | ۲ فقره زياته شوې ده.<br>۳ فقره زياته شوې ده. |
| | **څلورم څپرکی**<br>**د ټوليزو رسنيو او رسنيزو بنسټونو د امتيازخښتن او مسؤول مدير** | |
| **داصولو په پام کې نيول**<br>**شلمه ماده :**<br>دخصوصي راډيو او ټلويزيونونو اداري مکلفي دي چي په خپلو خپرونوکي داسلام دسپيڅلي دين اصول او حکمونه او دافغانستان دملت ملي ، معنوي او اخلاقي ارزښتونه او رواني امنيت په پام کي ونيسي . | **د امتياز د څښتن شرايط**<br>**شلمه ماده:**<br>(۱) د ټوليزو رسنيو او رسنيزو بنسټونو د امتياز څښتن (مالک) دلاندې شرايطو لرونکي وي:<br>۱- حقيقي اشخاص<br>- دهېواد د تابعيت سند لرل<br>- د اتلس کلني عمر بشپړول<br>- د واکمني محکمي د حکم پربنسټ له مدني حقونو څخه نه بې برخې والي .<br>۲- حکمي اشخاص<br>- ددولت په اړوندو ادارو کې ثبت او راجستر.<br>- دواکمني محکمي دحکم پربنسټ له مدني حقوقو څخه نه بې برخې والي.<br>بهرني اشخاص اومؤسسي دخپل متبوع هيواد د تابعيت او يا هويت سند ولري. | دنافذ قانون د شلمې مادې متن په تعديل شوې بڼه د مسودې په خوارلسمه او پنځلسمه ماده کې شتون لري.<br>د مسودې د شلمې مادې متن د نافذ قانون د پرشمې مادې تعديل شوې بڼه ده. |
| **دخصوصي راډيو او تلويزيونونوآزادي**<br>**يو ويشتمه ماده:**<br>دخصوصي راډيو او ټلويزيونونو اداري دغه قانون دحکمونو له په پام کې نيولو سره دخپلو ټولو پروگرامونو په برابرولو اوتدوينولو کې خپلواکي دي . | **د اساسنامې درلودل**<br>**يوويشتمه ماده:**<br>(۱) د امتيازڅښتن مکلف دی چې د اړوندې رسنۍ او رسنيز بنسټ له ثبت او فعاليت تر پيل وړاندې خپله اساسنامه ولري.<br>(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې راغلې اساسنامه، لاندې مطالب رانغاړي:<br>۱- د رسنۍ يا رسنيز بنسټ نوم؛<br>۲- موخې؛<br>۳- جوړښت؛ | د نافذ قانون د يوويشتمې مادې منځپانگه د شپږمې مادې په لومړۍ فقره کې به تعديل شوې بڼه راغلې ده.<br>د مسودې د يوويشتمې مادې متن د نافذ قانون د يودېرشمې مادې تعديل شوې بڼه ده. |

| | | |
|---|---|---|
| | ۴- د فعالیت، دندو او واکونو ساحه؛<br>۵- د فعالیت او کار ډول؛<br>۶- مالي سرچینې؛<br>۶- په اساسنامه کې د تعدیل او بدلون ډول؛<br>۷- د ړنګېدو موردونه او د مالي چارو تصفیه. | |
| **<u>دانډول په پام کې نیول</u>**<br>**دوه ویشتمه ماده :**<br>دخصوصي راډیو او تلویزیونونو اداري دې د اړخونو او سیاسي شخصیتون و یو دبل پر وړاندې په موضع ګیرۍ کې انډول مراعات کړي او د دواړو خواوو نظریات دې په ناپلوه توګه خپاره کړي . | **<u>د ثبت په موخه د معلوماتو وړاندې کول</u>**<br>**دوه ویشتمه ماده:**<br>(۱) د امتیاز څښتن، مکلف دی د لاندې معلوماتو لرونکې ځواب شوی پوښتنلیک د رسنۍ یا رسنیز بنسټ د ثبت په موخه، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت اړوند اداري ته وړاندې کړي:<br>۱- په دې قانون کې د راغلیو شرطونو ته پام سره د امتیاز څښتن او مسؤول مدیر بشپړ شهرت؛<br>۲- د رسنۍ یا رسنیز بنسټ نوم؛<br>۳- د فعالیت ډول؛<br>۴- د فعالیت ځای؛<br>۵- د تمویل سرچینې؛<br>۶- د پانګې کچه؛<br>۷- په چاپي رسنیو کې: تېراژ، ژبه، د خپرېدونکې منځپانګې ډول، د چاپ موده، قطع او صحافت؛<br>۹- په الکترونکي رسنیو او رسنیزو بنسټونو کې: د ماشیني آلو او سمبالیزو توکو شومره والی او څرنګوالی.<br>(۲) اساسنامه، د مسؤولیت د منلو په اړه د مسؤول مدیر اظهارلیک، د رسنۍ یا رسنیز بنسټ نښان او د ټاپې بېلګه، ددې مادې به (۱) فقره کې د درج شوي بیان لیک سره مل، د امتیاز څښتن له لوري، د ثبت په موخه اړوند اداري ته وړاندې کېږي. | د نافذ قانون د یادې مادې منځپانګه د مسودې د شپږمې مادې په دویمه فقره کې په تعدیل شوې بڼه شتون لري.<br>د مسودې د دوه ویشتمې مادې منځپانګه د نافذ قانون د دري دیرشمي مادې تعدیل شوې بڼه ده.<br><br>۲ فقره په دې ماده کې زیاته شوې ده. |
| **<u>د ضبط شوو مطالبو ساتل</u>**<br>**درویشتمه ماده :**<br>دخصوصي راډیو او تلویزیونونو اداري مکلفي دي چې خپلې ټولې ثبت او ضبط شوي خپروني په خپلو آرشیفونو کې لږ تر لږه تر درې کالو پورې خوندي کړي . | **د بدلون په اړه اطلاع**<br>**درویشتمه ماده:**<br>(۱) د امتیاز څښتن مکلف دی، په اساسنامه کې د هر ډول تعدیل او یا هغه نور هغه بدلونونه چې ددې قانون په یوویشتمه، دوه ویشتمه ماده کې په راغلیو ځانګړتیاوو کې راولي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې په لیکلي توګه خبر کړي. د تعدیل او بدلون ثبت اطلاعاتو او فرهنګ په اړوند | د نافذ قانون د درویشتمي مادې منځپانګه د مسودې د شپږمې مادې په دریمه فقره کې په تعدیل شوې بڼه شتون لري.<br>د مسودې د درویشتمي مادې لومړۍ فقره د نافذ قانون د نهه څلویښتمي مادې تعدیل شوې بڼه ده او دویمه فقره یې زیاته شوې ده. |

| | | |
|---|---|---|
| | رياست کې ثبتېږي، په دې شرط چې ددې قانون له حکمونو سره سم وي. د نه قناعت په صورت کې د امتياز خښتن کولای شي ددې قانون د څلېرويشتمې مادې له حکمونو سره سم، واک لرونکو بنسټونو ته ورشي.<br>(۲) که چېرې د رسنۍ يا رسنيز بنسټ مسؤول مدير تبديل يا گوښه کړای شي او يا استعفا وکړي په هره توگه چې خپله دنده له لاسه ورکړي، د امتياز خښتن مکلف دی د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت ته ليکلی خبر ورکړي او ياد وزارت ته د دېرشو رسمي ورځو په موده کې د نوي مسؤول مدير اظهارليک د مسؤوليت د منلو او په اړه يې په دې قانون کې درج شوي اړين معلومات وړاندې کړي. په ياده موده کې د رسنۍ يا رسنيز بنسټ چارې د هغه سرپرست له خوا چې د ددې قانون په اته ويشتمه ماده کې د راغلي شرايط ولري، هم اداره کېدای شي، غير له هغه د مسؤول مدير قانوني مسؤليتونه د امتياز خښتن ته راجع کېږي. | |
| **<u>د ادعا حق</u>**<br>**څلېرويشتمه ماده:**<br>که چيرې حقيقي يا حکمي شخص په ليکلي توگه ادعا وکړي چې حق يې ديوې توليزې رسنۍ په پروگرام کې ضايع شوی دي کولای شي هغه په خپل مالي لگښت دهغې رسنۍ له ارشيف څخه تکثير او د گټې اخيستنې وړ وگرځوي | **واک لرونکو بنسټونو ته د ورتگ حق**<br>**څلېرويشتمه ماده:**<br>(۱) که چېرې، غوښتنليک ورکوونکی، د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د خپرونو او د توليزو رسنيو د چارو رياست پرېکړه د رسنۍ يا رسنيز بنسټ د نه ثبت يا د فعاليت د جوازليک د نه ورکولو په اړه د قانون له حکمونو مخالفه وگڼي، د غوښتنې د رد د ځواب له ترلاسه کوو وروسته، د دېرشو رسمي ورځو په موده کې کولای شي چې در سنيو عالي شورا ته ورشي.<br>(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په راغلي حالت کې، د رسنيو عالي شورا د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د اړوند اداري د پرېکړې د تاييد يا رد په اړه پينځلسو رسمي ورځو په موده کې، د قانون او اړوند تقنيني سند د حکمونو پر بنسټ، خپله پرېکړه کوي.<br>(۳) که چېرې د رسنيو عالي شورا له خوا د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د اړوند اداري پرېکړه رد کړای شوه، ياده اداره مکلفه ده چې د | د نافذ قانون څليرويشتمه مادې منځپانگه د مسودې په يوولسمه ماده کې شتون لري.<br>د مسودې د څليرويشتمې مادې متن د نافذ قانون د پنځه ديرشمې مادې تعديل شوې بڼه ده.<br>۲ فقره زياته شوې ده.<br>۳ فقره زياته شوې ده. |

| | | |
|---|---|---|
| | نومورې شورا د پرېکړې له مخې، د پېنځو رسمي ورځو په موده کې د قانون د حکمونو په رعایت، غوښتنلیک ورکوونکي ته د فعالیت جوازلیک ورکړي. که نه نو د کورنیو رسنیو او رسنیزو بنسټونو د امتیازخښتن کولای شي د جوازلیک له اخیستو مخکې، خپل فعالیت پیل کړي او د پېنځلسو رسمي ورځو د مودې په دننه کې د خپل فعالیت جواز لیک ترلاسه کړي.<br>(۴) که چېرې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت اړوند اداره، ددې مادې په (۳) فقره کې په راغلې مودې کې، د اړوند رسنی یا رسنیز بنسټ فعالیت، د قانون خلاف وګڼي، کولای شي موضوع د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون ته وړاندې کړي، غیر له هغې ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوي د امتیاز خښتن ته د رسنی یا رسنیز بنسټ د فعالیت جواز لیک ورکړي.<br>(۵) که چېرې ددې په (۱) فقره کې د درج شوې ادارې د پرېکړې په تایید کې د رسنیو عالي شورا پرپرېکړه قناعت ترسره نه شي، غوښتنلیک ورکوونکي کولای شي چې واک لرونکي محکمې ته ورشي. | ۴ فقره زیاته شوې ده. |
| **<u>د بریښنایي رسنیو دمسوولو مدیرانو مکلفیت</u>**<br>**پنځه ویشتمه ماده:**<br>(۱) بریښنائي ډله ییزو رسنیو مسوول مدیران دې په خپلو زده کړه ییزو خپرونو کې دیني ، اخلاقي، روغتیایي ، دژوند چاپیریال، دپوهنې د اهمیت او دمخدره توکو دکرکیلې ،تولید او مصرف او دمسکراتو داستعمال د زیان مسئلو ته ځای ورکړي<br>(۲) دبریښنایي تولیزو رسنیو مسؤولو مدیران مکلف دي چې دخپلو شبکو له لارې پنځه وخته آذان خپور کړي او دخپلو خپرونو په ترتیب کې د اسلامي سپیڅلو ورځو او د روژې دمبارکې میاشتې تقدس په پام کې ونیسي . | **د رسنۍ او رسنیز بنسټ ثبت**<br>**پنځه ویشتمه ماده:**<br>(۱) د امتیاز څښتن مکلف دی د رسنۍ او رسنیز بنسټ له فعالیت وړاندې، د هغه د فعالیت جوازلیک ددې قانون د حکمونو او اړوند تقنیني سند له مخې، ترلاسه کړي. خو داچې دې قانون بل ډول حکم کړی وي.<br>(۲) د امتیاز څښتن نشي کولای د یو ډول رسنۍ یا رسنیز بنسټ د فعالیت د جوازلیک په اخیستلو سره د بل ډول رسنۍ یا رسنیز بنسټ په فعالیت پیل وکړي. د امتیاز څښتن مکلف دی نورې رسنۍ او رسنیز بنسټونه په جلا توګه ثبت کړي. | په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br>د نافذ قانون د پنځه ویشتمې مادې منځپانګه په تعدیل شوې بڼه د مسودې په پنځلسمه ماد ه کې راغلې ده. |
| **پنځم فصل** | | |

| | | |
|---|---|---|
| **دتولنیزورسنیومالي سرچینې** | | |
| **<u>دتمویل سرچینې</u>**<br>**شپږ ویشتمه ماده:**<br>(۱) ټولیزې رسنۍ کولای شي د دې قانون له حکمونو سره سم له لاندې لارو څخه ځان تمویل کړي:<br>۱- دحقیقي یا حکمي اشخاصو، کورنیواوبهرنیو تولیدي او سوداګریزو شرکتونو، سیاسي او فرهنګي ټولنو او سیاسي ګوندونو داعلانونو، پیغامونو او سیاسي، دیني، مذهبي او ټولنیزو برناموخپرول .<br>۲- له هغو حقیقي یا حکمي اشخاصو، نړیوالو اوملي مرسته کوونکو مؤسسو څخه د بسپنې اخیستل چې د ټولیزو رسنیو د پرمختیا لپاره فعالیت کوي .<br>(۲) دټولیزو رسنیو مسوول مدیران مکلف دي چې خپل کلني مالي رپوټ درسنیو عالي شورا او مالیې وزارت ته وړاندې کړي .<br>(۳) دعوایدو سرچینې اومبالغ باید روښانه او شفاف وي .<br>( ٤) د بیې په بدل کې حقیقي اوحکمي اشخاصو ته مسلکي او تخصصي خدمتونو برابرول. | **د مالکیت او امتیاز د فعالیت لیږدول**<br>**شپږویشتمه ماده:**<br>(۱) د ټولیزو رسنیو او رسنیزو بنسټونو د مالکیت او د فعالیت امتیاز لیږدول د لاندې موردونو په رعایت سره جواز لري:<br>۱- د پلورنې، بښلو، میراث، اجارې، پور او ګروې په بنه د ټولیزو رسنیو او رسنیزو بنسټونو د مالکیت او د فعالیت د امتیاز لیږدول؛<br>۲- ددې قانون د مندرجو شرطونو لرونکي شخص ته د فعالیت د امتیاز لیږدول؛<br>۳- د امتیاز څښتن د مړینې یا د حقوقي اهلیت له لاسه ورکولو په صورت کې، د قانون له حکمونو سره سم، د مادي مالکیت په اړه د اجراآتو ترسره کول او ددې قانون د مندرجو شرطونو لرونکي حقیقي یا حکمي شخص ته د هغه د ورثې لیکلي تړون ته پاملرنې سره د هغه د مانیز مالکیت لیږدول. د ورثې د نه شتون په صورت کې د نافذو قوانینو له حکمونو سره سم، د هغه د مادي او مانیز مالکیت په اړه اجراآات ترسره کیږي.<br>(۲) که چیرې په یوه نه یوه بنه د فعالیت امتیاز او مالکیت د امتیاز له څښتنه بل شخص ته ورلیږدي؛ د فعالیت جوازلیک چې دده به نوم ورکړ شوی، د لیږد وړ نه دی. نوی د امتیازڅښتن مکلف دی قانون له حکمونو سره سم، د فعالیت جوازلیک ترلاسه کړي. | د نافذ قانون شپږویشتمي مادې منځپانګه د مسودې په نولسمه ماده کې په تعدیل شوې بڼه شتون لري.<br>د مسودې شپږویشتمي مادې منځپانګه د نافذ قانون د شپږدېرشمي مادې تعدیل شوې بڼه ده. |
| **شپږم فصل**<br>**دمطبعو او فرهنګي مؤسسو تاسیس** | | |
| **<u>دتاسیس حق:</u>**<br>**اووه ویشتمه ماده :**<br>دهیواد اتباع، سیاسي ګوندونه، ټولنیز سازمانونه، غیر دولتي کورني او بهرني شرکتونه او مؤسسې او دولتي اداری حق لري ددغه قانون له احکامو سره سم | **<u>د امتیاز سلبول</u>**<br>**اووه ویشتمه ماده :**<br>(۱) هغه د امتیاز څښتن چې رسنۍ یا رسنیز بنسټ داطلاعاتو اوفرهنګ په وزارت کې ثبتوي، <u>په هغه صورت کې چې تر دووکلونو پورې خپل فعالیت پیل نکړي دهغوی امتیاز سلبیږي.</u> خو د | د اووه ویشتمي مادې منځپانګه د مسودې په اوولسمه ماده کې په تعدیل شوې بڼه شتون لري.<br>د مسودې اووه ویشتمه ماده د نافذ قانون د اووه څلویښتمې مادې تعدیل شوې بڼه ده. |

| | | |
|---|---|---|
| مطبعي، دفلم د توليدو خپره نيزې، دژورناليزم د زده کړې، دارالترجمې، دخبر رسوونکي آژانس مؤسسې او داعلانونو او تبليغاتو شرکتونه تاسيس کړي . | موجه دليلونو د شتون په صورت کې دغه موده يوازې د شپږو مياشتو لپاره اوږديدلای شي.<br>(۲) که چېرې دامتياز خاوند د فعاليت ديوې دورې له پيل څخه وروسته خپل خپرنيزکار ودروي او تردوو کلونو پورې بيا په خپرنيزفعاليت پيل ونکړي دهغو امتيازسلبيږي<br>(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقره کې راغلی د امتياز څښتن چې د فعاليت جوازليک يې له اعتبار ولېږي، د بيا فعاليت په صورت کې مکلف دی د فعاليت نوی جوازليک ترلاسه کړي.<br>(۴) په دغه قانون کې له درج شوو حکمونو څخه دامتياز دخاوند دسرغړاوي دتثبيت په صورت کې اړونده محکمه کولای شي دهغه دفعاليت امتياز سلب کړي. | |
| **دفعاليت جواز**<br>**اته ويشتمه ماده:**<br>دهيواد اتباع، سياسي ګوندونو، ټولنيز سازمانونه ، کورني اوبهرني خصوصي شرکتونه او مؤسسې چې ددغه قانون په اووه ويشتمي مادې کې درج شوې مؤسسې تاسيسوي ، مکلف دي هغو دفعاليت جواز د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت څخه ترلاسه کړي . | **د مسؤول مدير شرطونه**<br>**اته ويشتمه ماده:**<br>(۱) د ټوليزو رسنيو او رسنيزو بنسټونو مسؤول مدير د لاندې شرطونو لرونکی وي:<br>۱- د هېواد د تابعيت سند لرل؛<br>۲- د درويشت کلنی د عمر بشپړول؛<br>۳- په اړوند برخه کې د لوړو زده کړو د سند او يا درې کلنې تجربې لرل؛<br>۴- د واک لرونکې محکمې د حکم پر بنسټ له مدني حقوقو څخه نه بې برخېتوب؛ | د نافذ قانون د اته ويشتمې مادې منځپانګه د مسودې د پنځه ويشتمي مادې په لومړۍ فقره کې په تعديل شوې بڼه شتون لري.<br>د مسودې د اته ويشتمي مادې منځپانګه د نافذ قانون د اته دېرشمي مادې منځپانګه ده. |
| **اووم فصل**<br>**دامتياز خاوند،شرطونه او مکلفيتونه** | | |
| **دامتيازخاوند**<br>**نهه ويشتمه ماده:**<br>ټوليزې رسنۍ او ددغه قانون په اووه ويشتمي مادې کې درج شوي مؤسسې دامتيازخاوند لرونکي وي. | **د مسؤول مدير مسؤوليتونه او واکونه**<br>**نهه ويشتمه ماده:**<br>د ټوليزې رسنۍ او رسنيز بنسټ مسؤول مدير د لاندې مسؤوليتونو او مکلفيتونو لرونکی وي:<br>۱- په اړوند برخو کې د مضامينو، مطالبو، د برنامو د منځپانګو، د هنري، روزنيزو او تبليغاتي توليدي پروګرامونو خپرول؛<br>۲- په اړوند رسنۍ کې که چاپي وي يا الکترونيکي، د انتقادکوونکي او د هغه چا حقونو برابروالی رعايت چې نيوکه پرې کېږي؛<br>۳- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو او | د نافذ قانون نهه ويشتمه ماده په مسوده کې نه ده راغلې ځکه چې د امتياز څښتن په اصطلاحاتو تعريف شوی دی او تکراري بڼه لري.<br>د مسودې د نهه ويشتمي مادې منځپانګه د نافذ قانون د شپږ ويشتمي مادې د ۲ فقرې ، د نهه دېرشمي او څلويښتمي مادې او د پنځوسمي مادې د ۲ فقرې تعديل او اصلاح شوې بڼه او ځيني جزونه په کې زيات شوي هم دي. |

| | | |
|---|---|---|
| | ټولیزو رسنیو د چارو ریاست او مالیې وزارت ته د رسنۍ یا رسنیز بنسټ د کلني مالي راپور وړاندې کول؛ د یاد راپور منځپانګه عواید، لګښتونه او عوایدو او یا تمویل سرچینې رانغاړي؛<br>۴- د هر کال په پیل کې د خپلې رسنۍ یا رسنیز بنسټ د فعالیت د دوام یا نه دوام په اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو او ټولیزو رسنیو د چارو ریاست ته لیکلی خبر ورکول؛<br>۵- د اړوند رسنۍ یا رسنیز بنسټ د مسلکي او اداري چارو کې د دې قانون او نورو تقنیني سندونو د حکمونو او د هېواد رسنیزې تګلارې ته پاملرنه؛<br>۶- د قانوني واک لرونکو بنسټونو پر وړاندې مسؤولیت او ځواب ورکول؛<br>۷- نورې هغه دندې او واکونه چې اړوند تقنیني سند او د مسؤول مدیر د دندو لایحې کې راغلي وي. | |

| | | |
|---|---|---|
| **دامتیاز خاوند شرطونه**<br>**دیرشمه ماده:**<br>دټولیزو رسنیواوددغه قانون په اووه ویشتمي مادې کې ددرج شوو مؤسسو دامتیازخاوندان دلاندې شرایطو لرونکېي وي:<br>(الف) حقیقي اشخاص<br>١_ دهېواد دتابعیت سندلرل<br>٢_ داتلس کلني عمر بشپړول<br>٣_ دواکمني محکمې دحکم پربنسټ له مدني حقونو څخه نه بې برخې والي .<br>(ب) حکمي اشخاص<br>١_ ددولت په اړوندو ادارو کې ثبت او راجستر.<br>٢_ دا ړوندومسئولو ادارو له خوا دافغاني هویت تثبیت.<br>ددغه قانون دلسمې مادې په (٢ او ٣) فقره کې درج شوي اشخاص اوټولني له دې حکم څخه مستثني دي.<br>٣_ دواکمني محکمې دحکم پربنسټ له مدني حقوقو څخه نه بې برخې والي.<br>بهرني اشخاص اومؤسسې باید دخپل متبوع هیواد تابعیت سندولري. | **د امتیاز څښتن د مسؤول مدیر په توګه**<br>**دېرشمه ماده:**<br>که حقیقي شخص د رسنۍ یا رسنیز بنسټ د امتیاز څښتن وي، کولای شي د اړوندې رسنۍ یا رسنیز بنسټ مسؤول مدیر هم وي، په دې شرط چې، ددې قانون په اته ویشتمه ماده کې د راغلیو شرطونو لرونکی وي. | په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري. |
| | **پینځم څپرکی**<br>**عامه رسنۍ** | |
| **داساسنامې لرل**<br>**یودیرشمه ماده:**<br>دټولیزو رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمي مادې کې ددرج شویومؤسسو دامتیاز خاوندان مکلف دي دخپلو رسنیو یامؤسسو او دهغو دفعالیتونو دڅرنګوالي په هکله په اړونده اساسنامه کې لازم معلومات چې موخې ، تشکیل ، واکونه او دندې ، دپانګې مقدار اومالي سرچېنې په برکې ونیسي ، تنظیم کړي. | **د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون**<br>**یو دېرشمه ماده:**<br>(١) د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون، د عامه رسنۍ په توګه د افغانستان په ملت پورې تړاو لري چې د قانون او اړوندې اساسنامې له حکمونو سره سم، د دولت په چوکاټ کې د خپلواکې ادارې په توګه فعالیت کوي.<br>(٢) د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون لوی رئیس، د خبیرو، لوړو زده کړو او د ژورنالیزم په برخه کې د پینځه کلنې عملي تجربې لرونکو شخصیتونو له منځه، ددې قانون د پنځه دېرشمې مادې د (۴) | |

| | | |
|---|---|---|
| | فقرې په ۳ جزء کې له راغلي حکم سره سم او د درې ځلويښتمې مادې په (۱) فقره کې د راغليو شرطونو په رعايت، د څلورو کلونو لپاره ټاکل کيږي. يو شخص له دوو دورو زيات د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون د لوی رئيس په توګه نشي ټاکل کېدای.<br>(۳) د افغانستان راډيو ټلويزيون لوی رئيس کولای شي خپله استعفا په ليکلي توګه د رسنيو عالي شورا ته وړاندې کړي. د رسنيو عالي شورا د اکثريت غړيو له تاييد وروسته، د نوموړي استعفا د منلو لپاره جمهور رئيس ته وړاندې کيږي. که، د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون لوی رئيس په هر ډول، خپله دنده له لاسه ورکړي، نوی رئيس يې ددې قانون د حکمونو پر بنسټ د دېرشو رسمي ورځو په دننه کې ټاکل کيږي.<br>(۴) د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون مرکزي اداره په کابل ښار کې ده او ځايي اداري يې په ولايتونو کې دي.<br>(۵) د جنګ او د هېواد د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ ساتنه د تېرې له خطر سره د مخامختيا په حالت کې د هېواد جمهور رئيس کولای شي، د افغانستان د ملي راډيو ټلويزيون د اداري په اړه، وړ تصميم ونيسي.<br>(۶) د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون اداره، لاندې دندې او مکلفيتونه لري:<br>۱- د اسلام د مبين دين د بنسټونو او د افغانستان د ملت د ملي او معنوي ارزښتونو په رڼا کې د خپرونو چمتو کول؛<br>۲- په خپلو خپرونو کې اطلاع رسی، د اسلامي، علمي، فرهنګي، اقتصادي او اخلاقي ښوونو وړاندې کول؛<br>۳- په هېواد کې د ملي يووالي د تامين لپاره، ددې قانون له حکمونو سره سم، د افغانستان د ټولو خلکو د اندونو او فرهنګ د منعکسوونکو خپرونو وړاندې کول؛<br>۴- په بشرحقوقو په ځانګړې توګه د ښځو، ماشومانو او معلولانو په حقونو پورې د تړلو مطالبو خپرول؛<br>۵- په انډوليزه توګه د هېواد په دواړو رسمي ژبو د خپرونو او خبرونو خپرول؛ | |

| | | |
|---|---|---|
| | ۶- د اساسنامې له مخې، د دې مادې په ۵ مه برخه کې پر راغلیو ژبو سربېره، د هېواد د اساسي قانون په شپاړسمه ماده کې پر نورو راغلیو ژبو د خپرونو او خبرونو خپرول؛<br>۷- په اړوند آرشیف کې د خپلو ټولو ثبت او ضبط شویو خپرونو ساتل؛<br>۸- هغه دندې او مکلفیتونه چې د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون د کمېسیون له خوا، ددې قانون د حکمونو په رعایت، د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون ادارې ته وسپارل شي.<br>۹- په دې قانون، نورو قوانینو او اړوند اساسنامه کې نورې راغلي دندې او مکلفیتونه. | |
| په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري. | **د باختر اطلاعاتي آژانس**<br>**دوه دېرشمه ماده:**<br>(۱) باختر اطلاعاتي آژانس، عامه رسنی ده چې د د اړیکو، د اطلاعاتو د راټولولو او رسولو په برخه کې د خپلواکې ادارې په توګه، د قانون او اړوند اساسنامې له حکمونو سره سم، فعالیت کوي.<br>(۲) د باختر اطلاعاتي آژانس لوی رئیس، د خبیرو، لوړو زده کړو لرونکو او په ژورنالیزم کې د پینځه کلنې عملي تجربې لرونکو شخصیتونو له منځه، ددې قانون د پینځه دېرشمې مادې د څلورمې فقرې د ۳ جزء د حکم پر بنسټ او د درې څلوېښتمې مادې په (۱) فقره کې د راغلیو شرطونو په رعایت سره، د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي. یو شخص د باختر اطلاعاتي آژانس د لوی رئیس په توګه له دوو دورو زیات نشي ټاکل کیدای.<br>(۳) د باختر اطلاعاتي آژانس لوی رئیس کولای شي خپله استعفا د رسنیو عالي شورا ته په لیکلي توګه وړاندې کړي. د رسنیو عالي شورا د اکثریت غړو له تایید وروسته، د نوموړي استعفا لیک جمهور رییس ته د منلو لپاره وړاندې کیږي. که د باختر اطلاعاتي آژانس لوی رئیس په هر ډول، خپله دنده له لاسه ورکړي، نوی رئیس یې ددې قانون د حکمونو پر بنسټ د دېرشو رسمي ورځو په دننه کې ټاکل کیږي. | <u>**د رسنیو او فرهنګي مؤسسو ثبتول**</u><br>**دوه دیرشمه ماده:**<br>دټولیزو رسنیو اوددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې ددرج شوو مؤسسو دامتیاز خاوندان مکلف دي چې خپلې رسنۍ او مؤسسې ددغه قانون له درج شوو حکمونو سره سم ثبت کړي. |

| | | |
|---|---|---|
| | (۴) د باختر اطلاعاتي آژانس، لاندې دندې او مکلفیتونه ترسره کوي:<br>۱- د اطلاعاتو راټولول؛<br>۲- د خبرونو چمتو کول او اطلاع رسوني په موخه يې رسنيو ته وړاندې کول؛<br>۳- په اړوند آرشيف کې د خپلو ټولو ثبت او ظبط شويو اطلاعاتو ساتل؛<br>۴- هغه دندې او مکلفيتونه چې د باختر اطلاعاتي آژانس د مسلکي بورد له خوا ددې قانون د حکمونو په رعايت، د باختر اطلاعاتي آژانس اداري ته وسپارل شي؛<br>۵- په دې قانون، نورو قوانينو او اړوند اساسنامه کې راغلي نورې هغه دندې او مکلفيتونه. | |
| په مسوده کې د مادې منځپانګه زياته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري. | **عامه چاپي رسنۍ**<br>**درې دېرشمه ماده:**<br><br>(۱)هغه عامه چاپي رسنۍ چې د دولت په چوکاټ کې فعاليت کوي، د افغانستان په خلکو پورې تړاو لري.<br>(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د راغليو رسنيو شمېر، دندې او مکلفيتونه، د تمويل سرچيني او نور ور پورې اړوند مسايل په مربوط تقنيني سند کې تنظميږي. | **درسنيواوفرهنګي مؤسسو دثبت لپاره دمعلوماتو وړاندې کول**<br>**درې ديرشمه ماده :**<br>دتوليزو رسنيو او ددغه قانون په اووه ويشتمي مادې کې ددرج شويو مؤسسو دامتياز خاوندان مکلف دي دلاندنيو معلوماتو لرونکی بيان ليک، دثبتولو په خاطر داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت ته وړاندې کړي :<br>۱_ بشپړه پيژندګلوي.<br>۲_ دفعاليت څرنګوالي.<br>۳_ درسنۍ نوم.<br>٤_ دهغې دفعاليت ځای.<br>٥_ دفعاليت موخه او مرام<br>٦_ دتمويل سرچېنه اودپانګې اندازه .<br>۷_ په چاپي رسنيو کې : تيراژ، ژبه ، ډول ، خپرنيزه محتوي دچاپ وخت ، قطع اوصحافت .<br>۸_ په برېښنايي رسنيو اوددغه قانون په اووه ويشتمي مادې کې په درج شوو موسسو کې دماشينونو اوتجهيزاتو دکميت اوکېفيت تثبيتول. |
| | **شپږم څپرکی**<br>**د رسنيو عالي شورا او نور رسنيزجوړښتونه** | |
| | | |

| | | |
|---|---|---|
| **<u>دیټی اوځانګړی نښان درلودل</u>**<br>**څلور دیرشمه ماده :**<br>ټولیزې رسنی اوددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې درج شوي مؤسسې دیټی ، مهر اوځانګړي نښان لرونکې وي. | **د رسنیو عالي شورا جوړښت**<br>**څلوردېرشمه ماده:**<br>(۱) په دې قانون کې د راغلیو موخو د تحقق په او د رسنیزې تګلارې د تدوین او تصویب لپاره، ددې قانون د حکمونو له مخې، د رسنیو عالي شورا، د هېواد د رسنیو په چارو کې د تصمیم نیونې د تر ټولو لوړې اداني په توګه په لاندې ترکیب سره جوړېږي.<br>۱- د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر د غړي په توګه؛<br>۲- د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ د وزارت تخنیکي معین د غړي په توګه؛<br>۳- یو تن دیني عالم د غړي په توګه؛<br>۴- دوه تنه د ولسي جرګې غړي، ددې جرګې د فرهنګي چارو د کمېسیون په استازیتوب، د غړیو په توګه؛<br>۵- دوه تنه د مشرانو جرګې غړي، ددې جرګې د فرهنګي چارو د کمېسیون په استازیتوب، د غړیو په توګه؛<br>۶- یو تن د سترې محکمې استازی د غړي په توګه؛<br>۷- د عدلیې وزارت واک لرونکی استازی د غړي په توګه؛<br>۸- د ژورنالیستانو له ډلې څلور تنه د ژورنالیزم په برخه کې د لوړو زده کړو لرونکی، د غړیو په توګه؛<br>۹- دوه تنه د مدني ټولنې د بنسټونو په استازیتوب د غړیو په توګه.<br>(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په ۳ څخه تر ۹ جزء پورې مندرج غړي په لاندې توګه ټاکل کیږي:<br>۱- ددې مادې د (۱) فقرې به ۳، ۸ او ۹ جزء کې راغلي غړیو ټاکنه، د رسنیو د عالي شورا د طرزالعمل په واسطه تنظیمیږي.<br>۲- ددې مادې د (۱) فقرې د ۴، ۵، ۶ او ۷ جزء کې راغلي غړي، د اړوندو بنسټونو له خوا د رسنیو عالي شورا ته پېژندل کیږي.<br>۳- ددې مادې د (۱) فقرې د ۴، ۵، ۸ او ۹ جزء کې درج شوي غړي، د جنسیت په پام کې نیولو سره ټاکل کیږي.<br>(۳) د دې مادې د (۱) فقرې له ۳ تر ۹ جزء پورې د درج شویو غړیو د خدمت موده درې کاله ده. که | د نافذ قانون د مادي منځپانګه د مسودې په نهه څلوېښتمه ماده کې په تعدیل شوې بڼه راغلې ده.<br>د مسودې څلوردیرشمه ماده د نافذ قانون د یوڅلوېښتمې مادې تعدیل شوې بڼه ده. |

| | | |
|---|---|---|
| | چېرې ددې قانون د نهه پنځوسمې مادې د (۱) فقرې له ۳ څخه تر ۹جزء پورې د درج شوي غړي، په يوډول نه يو ډول د رسنيو عالي شورا غړيتوب له لاسه ورکړي، د يوي مياشتې مودې په دننه کې، ددې مادې د دې قانون د حکمونو له مخې بل شخص د هغه پر ځای ټاکل کېږي.<br>(۴) د رسنيو عالي شورا غړي د حق الحضور مستحق دي چې د قانون د حکمونو له مخې ورکول کېږي. | |
| د نافذ قانون د مادې متن | **د رسنيو عالي شورا دندې او واکونه**<br>**پنځه دېرشمه ماده:**<br>د رسنيو عالي شورا د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:<br>۱- د دې قانون د حکمونو په رعايت د هېواد رسنيزې ملي تګلارې تدوين، تصويب او تعديل؛<br>۲- په دې څېرکي کې د راغليو کمېسيونونو او د باختر د اطلاعاتي آژانس د مسلکي بورډ د غړيو په توګه په دې قانون کې د راغليو شرطونو لرونکي شخصيتونو انتخاب او جمهور رئيس ته د هغوی د منظورۍ وړانديځ؛ د يادو غړو د انتخاب لارې چارې د رسنيو عالي شورا په طرزالعمل کې ځرګندېږي.<br>۳- جمهوررئيس ته دافغانستان د ملي راډيو ټلويزيون، د لوی رئيس او د باختر اطلاعاتي آژانس د لوی رئيس د ټاکلو او ګوښه کولو د منظورۍ وړانديځ؛<br>۴- حکومت ته د پراوونو د تېرولو په موخه، د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون، باختر اطلاعاتي آژانس او د په دې څېرکي کې د راغليو کمېسيونونو او مسلکي بورد د بودجې وړانديځ؛<br>۵- د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون د خپرنيزې تګلارې تصويب په داسې ډول چې دافغانستان د ټولو خلکو د قومي، ژبنی او رسنيز تنوع ښکارندوی وي؛<br>۶- واک لرونکو بنسټونو ته د دې قانون او د رسنيو د فعاليت او رسنيزو وسيلو په برخه کې د نورو تقنيني سندونو د موادو تعديل او زياتوني وړانديځ؛ | <u>**محکمې ته دمراجعې حق**</u><br><br>**پنځه ديرشمه ماده :**<br>که چېرې دامتياز خاوند دجواز دنه ثبت يا صادرولو په هکله داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت تصميم دقانون دحکمونو مغاير وبولي ، کولاي شي اړوند کميسيون ته مراجعه وکړي دنه قناعت په صورت کې کولی شي د محکمې پروړاندې دعوي اقامه کړي. |

| | | |
|---|---|---|
| | ۷- د ددې قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره، بیان آزادی ملاتړ او د ټولیزو رسنیو د فعالیت ارزول؛<br>۸- د هېواد جمهور رئیس او ملي شورا ته د کلنې راپور وړاندې کول؛<br>۹- په دې قانون او د هېواد په نورو نافذو تقنیني سندونو کې په اړوندو برخو کې د نورو راغلیو دندو او واکونو اجرا کول. | |
| **<u>دملکیت اودفعالیت دامتیاز لیږدول</u>**<br><br>**شپږدیرشمه ماده :**<br>(۱) دټولیزو رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې ددرج شوو مؤسسو ملکیت اودفعالیت دامتیاز لیږدول ( پلورنه، هبه، میراث ) مجاز دي .<br>(۲) دفعالیت دامتیاز حق هغه شخص ته لیږدول کېدای شي چې په دې قانون کې د درج شوو شرطونو لرونکی وي.<br>(۳) بل شخص ته د رسنیو او پورته ذکر شویو مؤسسو د ملکیت یا د امتیاز د حق د خرڅلاو او یا د هغو د هبې په صورت کې ددغه قانون په حکمونو کې درج شوي مراتب، بیا تطبیقیږي.<br>(۴) د امتیاز د خاوند د مړینې یا د حقوقي اهلیت د دلاسه ورکولو په صورت کې د مادي ملکیت په هکله ددې قانون او مدني قانون له حکمونو سره سم اجراآت کېږي او معنوي امتیاز یې هغه شخص ته لیږدول کېږي چې وارثان ورسره موافقه ولري او ددغه قانون په حکمونو کې درج شوي شرطونه ولري. | **د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون**<br>**شپږ دېرشمه ماده:**<br>(۱) د رسنیزو سرغړونو له لامله د حقیقي او حکمي شخصیتونو د شکایتونو ته د رسیدګی او د هغو د څېړلو په موخه، د رسنیزو سرغړونو د څېړنو کمېسیون د لاندې غړیو په ګډون جوړېږي:<br>۱- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت واک لرونکی استازی؛<br>۲- د عدلیې وزارت واک لرونکی استازی؛<br>۳- د افغانستان د بشرحقوقو خپلواک کمېسیون استازی؛<br>۴- د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي استازی؛<br>۵- د ژورنالیستانو د صنفي ټولنو دوه تنه استازی؛<br>۶- د مدني ټولنو د بنسټونو استازی؛<br>۷- د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې استازی؛<br>۸- د افغانستان د سینماګرانو د صنفي اتحادیې استازی.<br>(۲) د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون غړي، د اړوندو بنسټونو او علمي مرکزونو له خوا معرفي او ددې قانون د د حکمونو له مخې ټاکل کېږي.<br>(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی کمېسیون لاندې دندې او واکونه لري:<br>۱- ددې قانون د شپږمې مادې د ۲ جزء، د اوومې، نهمې، یوولسمې، خوارلسمې مادې او د نهه ویشتمې مادې د (۱) فقرې د ۲ جزء د نه رعایت پر بنسټ د حقیقي او حکمي اشخاصو شکایتونو ته رسیدګې؛ | په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري. |

| | | |
|---|---|---|
| | ۲- د شکایتونو د اورېدنې او څېړنې لپاره د کورني کړندود او لارښودونو جوړول؛<br>۳- د کمېسیون پر خپله لومړنۍ پرېکړه بیاکتنه او ارزول؛<br>۴- د قانون د حکمونو سره سم، عدلي او قضايي بنسټونو ته د رسنيزو سرغړونو د پېښنو لېږل؛<br>۵- د رسنیو عالي شورا ته د خپلو ترسره کړیو چارو د کلني راپور وړاندې کول؛<br>۶- په دې قانون اوپه اړونده برخه کې د هېواد په نورو نافذو تقنیني سندونو کې راغلې دندې او واکونه.<br>(۴) د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون غړي، د حق الحضور مستحق دي چې، د قانون د حکم مطابق ورکول کېږي. | |
| | | **اتم فصل**<br>**مسئول مدیر او دهغه شرطونه اومکلفیتونه** |
| په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د اووه دیرشمې مادې منځپانګه په مسوده کې نشته ځکه چې مسؤول مدیر په اصطلاحاتو کې تعریف شوی دی. | **شکایت ته رسیدګي**<br>**اووه دېرشمه ماده:**<br>(۱) هر حقیقي یا حکمي شخص که د ټولیزې رسنۍ یا د رسنیز بنسټ له خوا ددې قانون له حکمونو څخه د مخالفو تولید شویو، خپرو شویو او تکثیر شویو مطالبو له امله زیانمن شي، کولای شي خپل شکایت د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>(۲) هیڅ دولتي اداره د څارنوالۍ په ګډون نشي کولای رسنیزې سرغړونې وڅېړي او په اړه یې تصمیم ونیسي. په لومړي ګام کې د رسنیزو سرغړونو څېړنه یوازې د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون له خوا کېږي، خو د مربوطو قوانینو له مخې، د ټاکنو په بهیر پورې د اړوندو رسنیزو سرغړونو او مؤلف له حقوقو ( کاپي رایټ) څخه د سرغړونو څېړنې، له دې حکم څخه مستثنا دي.<br>(۳) د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون ترلاسه کړی شکایت د خپل کړندود له مخې څېړي او ددې قانون او اړوند کړندود د حکمونو | <u>**دمسئول مدیردرلودل**</u><br>**اووه دیرشمه ماده :**<br>دله بیزې رسنۍ اوددغه قانون په اووه ویشتمې مادې کې درج شوي مؤسسي دمسئول مدیر لرونکي وي. |

| | | |
|---|---|---|
| | پر بنسټ یې په اړه پرېکړه کوي | |
| په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د اته دېرشمې مادې متن په تعدیل شوې بڼه د مسودې په اته ویشتمې مادې کې شتون لري. | **د کمېسیون احتیاطي تدبیرونه**<br>**اته دېرشمه ماده:**<br>(۱) که ددې قانون او نورو اړوند تقنیني سندونو له حکمونو څخه د ټولیزو رسنیو او رسنیزو بنسټونو سرغړونه جوته شي، د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون کولای شي له احوالو سره سم، لاندې تدبیرونه ونیسي:<br>۱- شفاهي سپارښتنه؛<br>۲- کتبي سپارښتنه؛<br>۳- په اصلاح او تصحیح امر؛<br>۴- د بښنې په غوښتلو د سرغړوونکي مکلفول؛<br>۵- د لیکلي اخطارېي ورکول؛<br>۶- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د رسنۍ یا رسنیز بنسټ د فعالیت د امتیاز د اخیستلو وړاندیځ.<br>(۲) که ددې مادې په (۱) فقره کې د راغلي کمېسیون څېړنې وښيي چې ترسره شوې کړنه د رسنیزې سرغړونې له پولو اوړېدلې او عدلي او قضایي څارنه غواړي، یاد کمېسیون، موضوع د عدلي او قضایي رسیدګی په موخه اړوند بنسټونو ته وړاندې کوي. | <u>**دمسئول مدیردټاکنی شرطونه**</u><br>**اته دیرشمه ماده :**<br>هغه شخص دمسئول مدیر په توګه ټاکل کېداې شي چې لاندني شرطونه ولري:<br>۱- دهېواد دتابعیت دسندلرل .<br>۲- دیو ویشت کلني عمربشپړول.<br>۳- دمسلکي زده کړو دسند لرل یا ددرې کلنی مسلکي تجربې لرل.<br>٤- دواکمني محکمې په حکم له مدني حقوقو څخه نه بې برخي والي . |
| په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري. | **د کمېسیون د تصمیم ابلاغ**<br>**نهه دېرشمه ماده:**<br>(۱) د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون پرېکړه لوریو ته په لیکلي توګه ورکول کېږي او د یاد کمېسیون په اړوند غونډه کې د ګډون کوونکو غړي مکلف دي ددغه کمېسیون پرېکړه لاسلیک کړي.<br>(۲) د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون پر پرېکړې د نه قناعت په شتون کې، لوري کولای شي د اووه رسمي ورځو په موده کې، د یادې | <u>**دمضمونونوله خیرولو څخه مسئولیت**</u><br>**نهه دیرشمه ماده :**<br>مسئول مدیرپه ډله ییزو رسنیو او ددغه قانون په اووه ویشتمي مادې کې په درج شویو موئسسو کې دخپلو مضامینو ، دبرنامو د محتویاتو اوهنري ، زده کړه ییزو اوتبلیغاتي پروګرامونو دتولید په وړاندې مسئول دی. |

| | | |
|---|---|---|
| | پرېکـړې لــه ترلاســه کولــو وروســته، خپــل غوښتنلیک د بیا ارزونې لپاره دغه کمېسیون ته وړاندې کړي. یاد کمېسیون مکلف دی، دغه غوښتنلیک د طرزالعمل له مخې وارزوي او پایله یې لوریو ته وښیي. ددې کمېسیون نوې پرېکړه د خپلې پخوانۍ پرېکړې د بیا ارزونې پر بنسټ د لوریو د قناعت په صورت کې وروستۍ او د پلیتوب وړ ده.<br>(۳) که چېرې لوري ددې مادې په (۲) فقره کې پر راغلې پرېکړې قناعت ونلري، کولای شي د پېنځلسو رسمي ورځو په موده کې، واک لرونکې محکمې ته ورشي. | |
| په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د څلوېښتمې مادې متن د مسودې د نهه ویشتمې مادې د ۱ فقرې په ۲ جزء کې په تعدیل شوې بڼه شتون لري. | **د پرېکړو له منځه وړل او یا پلیتوب**<br>**څلوېښتمه ماده:**<br>(۱) په دې قانون او اړوند طرزالعمل کې د راغلیو رسنیزو سرغړونو په اړه د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون وروستۍ پرېکړې، یوازې واک لرونکې محکمه د قانون د حکم له مخې فسخه کولای شي.<br>(۲) که ددې مادې په (۱) فقره کې راغلې پرېکړې، د لوریو له خوا د نه قناعت پر بنسټ، د دې قانون د نهه دېرشمې مادې په (۱) فقره کې د راغلې مودې په بهیر کې واک لرونکې محکمې ته وړاندې نشي، د پلیتوب وړ دي. که د لوریو له خوا دغه پرېکړې رعایت نشي، د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون د طرزالعمل له مخې موضوع څاري او د اړتیا په صورت کې، سرغړونکي عدلي او قضایي بنسټونو ته ورپېژني. | **دانتقاد کوونکي او انتقاد کېدونکي د حقوقو په پام کې نیول**<br>څلوېښتمه ماده :<br>مسئول مدیرمکلف دی چې په اړونده چاپي او بریښنایي رسنۍ کې دانتقادکوونکي اوانتقاد کېدونکي دحقوقو برابري په پام کې ونیسي. |
| | | **نـهم فصل**<br>**درسنیو عالي شورا** |
| په مسوده کې راغلې ماده د نافذ قانون د څلورڅلوېښتمې مادې اصلاح شوې او تعدیل شوې بڼه ده.<br>د نافذ قانون د یوڅلوېښتمې مادې متن د مسودې په څلوردېرشمه ماده کې په تعدیل شوې بڼه شتون لري. | **دافغانستان د ملي راډیو ټلویزیون کمېسیون**<br>**یوڅلوېښتمه ماده:**<br>(۱) د افغانستان د ملي راډیو ټلویزیون د اداري د چارو د ښه سمون په موخه، د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون کمېسیون، قومي او جنسیتي انډول ته په پام سره، د لاندو غړیو په ګډون جوړېږي:<br>۱- یو تن دیني عالم؛<br>۲- یو تن د مدني ټولنې د بنسټونو په استازیتوب؛ | **درسنیو دعالي شورا جوړښت**<br>**یوڅلویښتمه ماده :**<br>(۱) دډله ییزو رسنیو عالي شورا درسنیزې پالیسۍ دطرحې اوتدوین په موخه داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت دوزیر، دمخابراتو وزارت دمسلکي معین ، دسترې محکمې داستازي، دعدلیې وزارت داستازي، له مشرانو جرګې څخه |

| | | |
|---|---|---|
| ددوو تنو ، له ولسي جرگې څخه ددوو تنو، دعلماوو دشورا په استازيتوب ديوه تن جيد ديني عالم اود ژورناليزم دټولنې دمسلکي اوتجربه لرونکو دوو تنو ژورنالستانو اودمدني ټولنې غړو چې دهغوی له خوا وړانديز شوي وي په ترکيب ، ددريو کلونو لپاره جوړيږي.<br>(۲) درسنيو دعالي شورا يوغړی دازادو ټاکنو له لارې دهغوی له منځ څخه درئيس په توگه ټاکل کيږي.<br>(۳) درسنيو دعالي شورا دغړو په توگه دژورنالستانو او مدني ټولنې دڅلورو تنو غړو دټاکلو ډول او ددغې شورا دکار اوفعاليت څرنگوالي دځانگړې کړنلارې په وسيله تنظيميږي .<br>(٤) د رسنيو عالي شورا دلاندنيو دندو اوواکونو لرونکې ده.<br>۱- داوږد مهالي رسنيزې پاليسی طرح کول اوتصويب.<br>۲- جمهوررئيس ته دمنظورۍ په غرض دمسلکې، خپلواکو اونيک شهرت لرونکو شخصيتونو له منځ څخه د ډله ييزو رسنيو کميسيون دريیس او غړو اودملي راډيو تلويزيون داداري دکميسيون دريیس او غړو وړانديز.<br>۳- حکومت ته دملي راډيوتلويزيون داداري بودجې وړانديز اوملي شورا ته دکلني رپوټ وړاندې کول. | ۳- يو تن حقوق پوه؛<br>۴- يو تنه د ژورناليزم کارپوه؛<br>۵- يو تن د د معلوماتي ټکنالوجی کارپوه؛<br>۶- يو تن د بازار موندنې د مديريت کارپوه؛<br>۷- يو تن مسلکی هنرمند.<br>(۲) د افغانستان د ملي راډيوټلويزيون لوی رئيس کولای شي د کمېسيون په غونډو کې پر مطروحه مسايلو د نظرڅرگندولو په موخه گډون وکړي، خو د رای حق نلري.<br>(۳) د دافغانستان ملي راډيو ټلويزيون د کمېسيون غړي، ددې قانون له حکمونو سره سم، لاندې مراتبو ته پام سره، ټاکل کيږي:<br>۱- څلور تنه غړي، د درې کلنې مودې لپاره؛<br>۲- درې تنه غړي، د دوه کلنې مودې لپاره.<br>(۴) د افغانستان د ملي راډيوټلويزيون د کمېسيون د غړو د ورستيو دورو ټاکل، د درې کلنې مودې لپاره دي.<br>(۵) ددې مادې د (۱) فقرې د ۱، ۲ او ۷ جزء کې د مندرجو غړي د افغانستان د ملي راډيوټلويزيون د کمېسيون په غونډو کې د گډون لپاره او ددې مادې د (۱) فقرې له ۳ څخه تر ۶ جزء پورې مندرج غړي، د ټول رسمي وخت لپاره ټاکل کيږي.<br>(۶) ددې مادې په (۱) فقره کې راغلی کمېسيون، لاندې دندې او واکونه لري:<br>۱- د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون د خپلواکۍ، ناپلوۍ او مسلکي حيثيت ساتل؛<br>۲- د افغانستان د ملي راډيو ټلويزيون پر اجرايي چارو څارنه؛<br>۳- د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون د بودجې تدقيق او د رسنيو عالي شورا ته يې د وروستيو پړاوونو لپاره وړاندې کول؛<br>۴- د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون د پياوړتيا لپاره د مرستو جذبول؛<br>۵- د افغانستان د ملي راډيو ټلويزيون د اساسنامې د تعديل وړانديځ او د رسنيو عالي شورا له لارې يې واک لرونکو بنسټونو ته د هغې د پړاوونو تېرول؛<br>۶- د افغانستان د ملي راډيو ټلويزيون او نورو اړوند تقنيني سندونو پر پليتوب څارنه؛ | |

| | | |
|---|---|---|
| | ۷- د افغانستان د ملي راډيو ټلويزيون د خپرنيزې تګلارې تدقيق، او د تصويب په موخه يې د رسنيو عالي شورا ته وړاندې کول او د هغې پر پليتوب څارنه؛<br>۸- د افغانستان د ملي راډيو ټلويزيون د لايحو، طرزالعملونو او د ملي راډيوټلويزيون د اساسنامې او د خپرنيزې تګلارې د ښه پليتوب لپاره د لارښودونو تصويبول؛<br>۹- د رسنيو عالي شورا ته د ترسره کړيو چارو د کلني راپور وړاندې کول؛<br>۱۰- نورې هغه دندې چې په دې قانون او نورو تقنيني سندونو کې راغلي دي.<br>(۷) د افغانستان د ملي راډيوټلويزيون د کمېسيون غړي چې د ټول رسمي وخت لپاره، ټاکل کېږي، د حقوقو امتيازونو مستحق دي او هغه غړي چې د کمېسيون په غونډو کې ګډون کوي د حق الحضور مستحق دي چې د قانون له مخې د کمېسيون له بودجې څخه ورکول کېږي. | |
| **دټوليزو رسنيو کميسيون**<br>**دوه ځلوېښتمه ماده :**<br>(۱) د ټوليزو رسنيو دفعاليت دلاښه تنظيم په موخه د اوو تنو مسلکي، لوړو زده کړو لرونکواو دژورناليزم دتجربې په لرلو اودقومي او جنسيتي جوړښت له په پام کې نيولوسره د ټوليزو رسنيو کميسيون جوړيږي.<br>(۲) د کميسيون څلور تنه غړي ددريو کلونو او درې تنه نوريې ددوو کلونو لپاه غوره کيږي.<br>(۳) د کميسيون غړي تردوو ځلو زيات دغوره کېدو حق نه لري.<br>(٤) د کميسيون دغړو معاش د قانون مطابق د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له بودجې څخه ورکول کيږي.<br>(٥) د کميسيون د کار څرنګوالى دځانګړې کړنلارې په واسطه تنظيميږي. | **د باختر اطلاعاتي آژانس مسلکي بورد**<br>**دوه ځلوېښتمه ماده:**<br>(۱) د باختر اطلاعاتي آژانس د چارو د ښه سمون په موخه، د باختر آژانس مسلکي بورد د پنځو تنو غړوپه ګډون، د قومي او جنسيتي انډول ته په پاملرنې سره په لاندې توګه ټاکل کېږي:<br>۱- يو تن د مدني ټولنې له بنسټونو څخه؛<br>۲- يو تن د ژورناليزم کارپوه؛<br>۳- يو تن د حقوقو کارپوه؛<br>۴- يو تن د سوداګريز مديريت کارپوه.<br>(۲) د باختر اطلاعاتي آژانس لوی رئيس، کولای شي د مسلکي بورډ په غونډو کې ګډون وکړي او د مطروحه مسايلو په اړه نظرڅرګند کړي، خو د رای حق نلري.<br>(۳) د باختر اطلاعاتي آژانس مسلکي بورډ د غړو د خدمت موده، لاندې مراتبو ته په پاملرنې سره ده:<br>۱- درې تنه د مسلکي بورد غړي، د درې کلنې مودې لپاره؛<br>۲- دوه تنه د مسلکي بورد غړي، د دوه کلنې مودې لپاره. | په مسوده کې د مادې منځپانګه زياته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون په دوه ځلوېښتمه ماده کې راغلی کمېسيون په مسوده کې نه دې راغلی او دندې او واکونه يې د رسنيو عالي شورا، د رسنيزو سرغړونو د څېړنې کمېسيون<br><br>او د خپرونو او ټوليزو رسنيو د چارو رياست ته لېږدېدلي دي. |

| | | |
|---|---|---|
| | ۳- د مسلکي بورډ د غړو وروستی دورو ټاکنه، د دري کلونو لپاره ده.<br>(۴) د باختراطلاعاتي آژانس د مسلکي بورډ دوه تنه غړي د بورډ په غونډو کې د ګډون او دري تنه غړي يې د ټول رسمي وخت لپاره ټاکل کيږي.<br>(۵) ددې مادې په (۱) فقره کې راغلی مسلکي بورډ، لاندې دندې او واکونه لري:<br>۱- د باختر اطلاعاتي آژانس د خپلواکی، ناپلوۍ او مسلکي حيثيت ساتل؛<br>۲- د باختر اطلاعاتي آژانس پر اجرايي چارو څارنه؛<br>۳- د باختر اطلاعاتي آژانس د بودجې تدقيق او د وروستيو پړاوونو لپاره يې د رسنيو عالي شورا ته وړاندې کول؛<br>۴- د باختر اطلاعاتي آژانس د پياوړتيا لپاره د مرستو جذبول؛<br>۵- د باختر اطلاعاتي آژانس د اساسنامې او نورو اړوند تقنيني سندونو د حکمونو پر پليتوب څارنه؛<br>۶- د باختر اطلاعاتي آژانس مسلکي تګلارې تدقيق او د تصويب لپاره يې د رسنيو عالي شورا ته وړاندې کول؛<br>۷- د رسنيو عالي شورا ته د وروستيو پړاوونو د تېرولو لپاره، په باختر آژانس پورې د اړوند تقنيني سندونو د موادو د تعديل او سمون وړانديځ؛<br>۸- د باختر اطلاعاتي آژانس د اساسنامې، لايحو او طرزالعملونو د ښه پليتوب لپاره د لارښودونو تصويب؛<br>۹- در رسنيو عالي شورا ته د ترسره کړيو چارو د کلني راپور وړاندې کول؛<br>۱۰- په دې قانون او نورو اړوندو تقنيني سندونو کې راغلې دندې.<br>(۶) د هغو غړو حق الحضور چې د بورډ په غونډو کې ګډون کوي او ياد بورډ د هغو غړو چې د ټول رسمي وخت لپاره دنده ترسره کوي، د بورډ له بودجې څخه د قانون له مخې ورکول کيږي. | |
| **<u>دټولنیزو رسنیو کمیسیون دندی</u>**<br>**دري څلويښتمه ماده :**<br>ددغه قانون په دوه څلويښتمه ماده کې | **د غړيتوب شرطونه**<br>**دري څلويښتمه ماده:**<br>(۱) د رسنيو عالي شورا انتخابي غړي، د ټولیزو | په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري. |

| | | |
|---|---|---|
| درج شوی کمیسیون دلاندینو دندو اوواکونو لرونکی دی.<br>۱- دچاپي رسنیو او د دغه قانون په اووه ویشتمه ماده کې ددرج شوو مؤسسو غوښتونکو دغوښتلیکونو څېړنه او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د هغو د منظورۍ ثبت او د جواز دورکولو نوراندیز.<br>۲- د بریښنایي رسنیو د غوښتونکو دغوښتنلیکونو څېړنه او د اطلاعاتو اوفرهنګ وزارت ته دهغو د منظورۍ وړاندیز، دمخابراتو وزارت په موافقې دفریکونسی له ټاکلو څخه وروسته .<br>۳- د ټولیزو رسنیو له فعالیت څخه څارنه .<br>٤- له ټولیزو رسنیو څخه د شکایتونو څېرل او دهغو دحقوقي شخړو حل کلو<br>۵- عدلي مراجعو ته د ټولیزو رسنیو د جرمي سرغړونو لیږل.<br>٦- دټولیزو رسنیو چلوونکو ته د تخنیکي مشورو ورکول.<br>۷- د ملي راډیو تلویزیون د اداري پرخپرنیزو، اداري او مالي چارو باندې څارنه<br>۸- دملي راډیو تلویزیون د اداري دبودجې تدقیق اودټولنیزورسنیو عالي شورا ته دهغې وړاندې کول.<br>۹- دټولیزو رسنیو عالي شورا ته دکلني ریوټ وړاندې کول. | رسنیو کمېسیون غړي، د افغانستان د ملي راډیوتلویزیون کمېسیون او د باختر اطلاعاتي آژانس د مسلکي بورډ انتخابي غړي، په دې قانون کې پر راغلیو شرطونو سربېره، دغه لاندې شرایط هم لري:<br>۱- د افغانستان د تابعیت لرل؛<br>۲- لږترلږه د (۲۵) کلنۍ د عمر بشپړول؛<br>۳- لږترلږه د لیسانس د زده کړې سند درلودل؛<br>۴- پېنځه کاله علمي یا عملي تجربې لرل؛<br>۵- د واک لرونکې محکمې د حکم پر بنسټ د جنایت په ارتکاب او له مدني او سیاسي حقوقو څخه په نه بې برخېتوب نه محکومیت؛<br>(۲) د رسنیزو سرغړونو د څېړنې د کمېسیون غړي د رسنۍ یا رسنیز بنسټ د امتیاز څښتن یا مسؤول مدیر په توګه نشي غوره کېدلای. | د نافذ قانون د مادې متن په مسوده کې د رسنیو عالي شورا، د رسنیزو سرغړونو د څېړنې کمېسیون او د خپرونو او ټولیزو رسنیو د چارو ریاست په دندو او واکونو کې ځای پر ځای شوی دی. |
| **دافغانستان د ملی راډیوتلویزیون کمیسیون**<br>**څلورڅلویښتمه ماده :**<br>(۱) د ملي راډیوتلویزیون د اداري دچارو دښه تنظیمولو په مقصد د ملي راډیوتلویزیون کمیسیون داوو غړو په ترکیب ددریو کلونولپاره جوړیږي.<br>(۲) ددغې مادې په لومړۍ فقره کې ددرج شوي کمیسیون په غړو کې د قوم | **د رئیس ټاکنه او د کار دوره**<br>**څلورڅلویښتمه ماده:**<br>(۱) د رسنیو عالي شورا، په دې څپرکي کې راغلي کمېسیونونه او مسلکي بورډ، هر یو یې رئیس لري چې د خپلو غړیو له منځه یې د رایې اخیستنې له لارې په خپله ټاکي.<br>(۲) که چېرې په دې څپرکي کې د راغلیو کمېسیونونو او مسلکي بورډ څخه د یوه هغه غړي، د خپل رئیس په ټاکلو کې موافقې ته ونه | په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د مادې متن په تعدیل شوي بڼه د مسودې په یوڅلویښتمه ماده کې شتون لري. |

| | | |
|---|---|---|
| اوجنسیت دانډول له په پام کې نیولو سره یوتن دیني عالم، یوتن حقوق پوه، یوتن مسلکي انجینر، یوتن خبریال، یوتن مسلکي هنرمند، یوتن دمدني ټولنې استازی اویوتن دملي راډیوتلویزیون دادارې استازی شامل دي.<br>(۳) ددغې مادې په دوه یمه فقره کې درج شوی کمیسیون لاندې دندې اواکونه لري<br>۱- د ملي راډیوتلویزیون دادارې دخپلواکی، ناپلوۍ اومسلکي حیثیت ساتل.<br>۲- د ملي راډیو تلویزیون د ادارې دبودجې له تطبیقوفو څخه څارنه.<br>۳- دټولیزو رسنیو عالي شورا ته د ملي راډیوتلویزیون دادارې دفعالیتونو د کلنې رپوټ وړاندې کول.<br>٤-د ملي راډیوتلویزیون د ادارې دپیاوړتیا لپاره د کورنیو اوبهرنیو مرستو جلبول<br>٥- د ملي راډیوتلویزیون د ادارې داساسنامې او اړوندو قوانینو د حکمونو له پلي کولو څخه څارنه .<br>٦- دټولیزو رسنیو دعالي شورا له خوا دټاکل شوې خپرنیزې پالیسی له پلي کولو څخه څارنه، په داسې حال کې چې دافغانستان د ټولوخلکود فرهنګي، ژبني اوقومي تنوع ښکارندوي وکړي.<br>(٤) دافغانستان د ملي راډیو تلویزیون د کمیسیون غړي د مناسب حق الحضور مستحق دي چې د ملي راډیو تلویزیون د ادارې له بودجې څخه ورکول کېږي. | رسېږي، رئیس یې د رسنیو عالي شورا له خوا د اړوند کمېسیون یا مسلکي بورد له غړیو څخه د رسنیو د عالي شورا په طرزالعمل کې له راغلیو معیارونو سره سم ټاکل کېږي.<br>(۳) د رسنیو د عالي شورا او په دې څېرکي کې د راغلیو کمېسیونونو او مسلکي بورډ د فعالیت او کار ډول، په کورنیو دندو پورې د اړوند جلا طرزالعمل له مخې تنظیمېږي.<br>(۴) د رسنیو عالي شورا او په دې څېرکي کې راغلي کمېسیونونه او مسلکي بورد، د قانون او اړوند کړندود له مخې، خپلې چارې او پرېکړې په خپلواکه توګه ترسره کوي. | |
| **لسم فصل**<br>**هغه آثاراو مطالب چې تولید، چاپ اوخپرول یې منع دي** | | |
| **دممنوعه مطالبو خپرول** | **د غړیتوب له لاسه ورکول** | په مسوده کې د مادې منځپانګه |

| | | |
|---|---|---|
| **پنځه څلویښتمه ماده :**<br>ددغه قانون په اووه ویشتمه ماده کې په درج شوو ټولیزو رسنیو او مؤسسو کې دلاندنیو رپوټونو او مطالبو تولیدول، تکثیرول ، چاپول اونشرول جوازنلري:<br>١- هغه آثار او مطالب چې داسلام دسپیڅلي دین له حکمونو اواصولو سره په ټوپیرکې وي.<br>٢- هغه آثار اومطالب چې نورو ادیانو اومذهبونو ته دسپکاوي لامل وګرځي.<br>٣- هغه آثار اومطالب چې دحقیقي اوحکمي اشخاصو دسپکاوي، تحقیر اودهتک حرمت لامل شي .<br>٤- هغه آثار اومطالب چې پر حقیقي اوحکمي اشخاصو افترا وي او دهغوی شخصیت اواعتبار په ټولنه کې زیانمن کړي.<br>٥- هغه آثار اومطالب چې له اساسي قانون سره توپیر ولري او دجزا په قانون کې جرم وګڼل شي .<br>٦- پرته داسلام له سپیڅلي دین څخه دنورو دینونو تبلیغول اوترویج.<br>٧- دتاوتریخوالي اودتیري دقربانیانو دهویت اودتصویرونو څرګندول په داسي ډول چې ټولنیز حیثیت یې زیانمن شي .<br>٨- هغه اثار او مطالب چې دټولنې دافرادو او په ځانګړي توګه د ماشومانو اوتنکیو ځوانانو رواني امنیت او اخلاقي سلامت زیانمنوي. | **پنځه څلویښتمه ماده:**<br>په دې څېرکې کې د راغلیو کمېسیونونو او مسلکي بورډ غړي، په لاندې حالتونو کې خپله دنده له لاسه ورکوي:<br>١- لیکلي استعفا او د جمهور رئیس له خوا یې منل؛<br>٢- ددې قانون په دېرشمه ماده کې له راغلیو شرطونو څخه د یوه شرط نقضول؛<br>٣- صعب العلاجه او دوام لرونکي ناروغي چې په غونډو کې د غړي د شتون خنډ شي.<br>(٢) د رسنیو عالي شورا انتخابي غړی او یا په دې څېرکې کې د راغلیو کمېسیونونو او مسلکي بورډ څخه د یوه انتخابی غړی، په لاندې حالتونو کې د مستندو او څرګندو دلیلونو په شتون کې ګوښه کېږي:<br>١- د ورسپارل شویو چارو په ترسره کولو کې بې کفایتي؛<br>٢- په یوکال کې بې له موجه دلیلونو په څلورو پرلپسې یا اتو بېلابېلو غونډو کې نه ګډون؛<br>(٣) په دې څېرکې کې د راغلیو کمیسیونونو او مسلکي بورډ د غړیو ګوښه کول، د اړوند کمېسیون یا مسلکي بورډ له دری برخو څخه د دوه برخو غړیو په وړاندیځ، د رسنیو عالي شورا د اکثریت غړیو له تایید او دجمهوررئیس له منلو وروسته ترسره کېږي.<br>(٤) د رسنیو عالي شورا انتخابي غړیو ګوښه والی، د دې شورا له درېوو څخه د دوو برخو غړیو د اکثریت پرېکړې پر بنسټ پلی کېږي. | زیاته شوی ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د پنځه څلویښتمې مادې متن په تعدیل شوې بڼه د مسودې په څوارلسمه ماده کې راغلی دی. |
| **دباختراژانس**<br>**شپږڅلویښتمه ماده :**<br>هغه ټولیزه رسنی چې داړیکېو، داطلاعاتو اوراټولولو اورسولو په برخه کې داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي اوبودجه یې دهغه وزارت له لاري تامینیږي. | **استعفا**<br>**شپږڅلویښتمه ماده:**<br>(١) ددې قانون د څلېرویشتمې مادې د (٢) فقرې په ٥، ٦ او ٧ جزء کې د رسنیو عالي شورا مندرج غړي، کولای شي خپله استعفا اړوند بنسټونو ته وړاندې کړي، د هغوی د استعفا له منلو وروسته، اړوند بنسټونه درسنیو عالي شورا ته بل شخص د خپل استازي په توګه یادې شورا ته ورپېژني.<br>(٢) د دې قانون د څلېرویشتمې مادې د (٢) فقرې | په مسوده کې د مادې منځپانګه زیاته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د شپږڅلویښتمې مادې منځپانګه حذف شوې او د مسودې په یودېرشمه ماده کې د باخترآژانس د یوې خپلواکه اداري او عامه رسنۍ په توګه راغلی چوکاټ یې هم څرګند دی. |

| | | |
|---|---|---|
| | په ۴، ۸ او ۹ جزء کې مندرج غړي هم کولای شي خپله استعفا د رسنيو عالي شورا ته وړاندې کړي، د رسنيو عالي شورا له خوا يې د استعفا له منلو ورسته، په دې قانون کې د راغليو شرطونو لرونکې شخصيتونه، د رسنيو عالي شورا د کړندود له مخې د يادې شورا د غړيو په توګه ټاکل کېږي.<br>(۳) د رسنيزو سرغړونو د څېړنې کمېسيون او د افغانستان ملي راډيوټلويزيون کمېسيون او په دې څپرکي کې د راغلي مسلکي بورډ غړي کولای شي خپله استعفا د رسنيو عالي شورا ته وړاندې کړي. د يادې شورا له تاييد وروسته، استعفا يې د منلو لپاره جمهوررئيس ته وړاندې کېږي. | |
| **د امتياز سلبول**<br>**اووه څلوېښتمه ماده :**<br>(۱) هغه حقيقي ياحکمي اشخاص چې يوه رسنۍ يا مؤسسه داطلاعاتو اوفرهنګ په وزارت کې ثبتوي، په هغه صورت کې چې چاپي رسنۍ دثبت له نيټې څخه تريوه کاله پورې اوددغه قانون په اووه ويشتمه ماده کې درج شوې برېښنايي رسنۍ اومؤسسې دثبت له نيټې څخه تر دووکلونو پورې خپل خپرنيز فعاليت پيل نکړي دهغوی امتياز سلبيږي.<br>(۲) که چېرې د امتياز خاوند د خپروني دفعاليت ديوې دورې له پيل څخه وروسته خپل خپرنيزکار ودروي اودچاپي رسني دامتياز خاوند تريوه کال پورې دبرېښنايي رسني دامتيازخاونداوپه اووه ويشتمې مادې کې درج شوي موسسې تردوو کلونو پورې بيا په خپرنيزفعاليت پيل ونکړي دهغو امتيازسلبيږي<br>دبيا فعاليت په صورت کې ددغه قانون په يو ديرشمه او څلورديرشمه ماده کې ددرج شوو پړاوونو په بياتيرولو مکلف دي.<br>(۳) په دغه قانون کې له درج شوو حکمونو څخه د امتياز دخاوند | **د نويو غړو ټاکل**<br>**اووه څلوېښتمه ماده:**<br>(۱) که چېرې د رسنيو د عالي شورا او په دې څپرکي کې د راغليو کمېسيونونو يا مسلکي بورډ غړی، خپل غړيتوب په يو ډول نه يو ډول له لاسه ورکوي. له يو کال څخه د زياتې پاتې مودې د بشپړېدو لپاره، بل شخص د يوې مياشتې په موده کې ددې قانون له حکمونو سره سم، ټاکل کېږي. دغه موده هم د نوي ټاکل شوي غړي د خدمت په يوې دورې کې شاملېږي.<br>(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د راغلي غړي د کار له مودې، يو کال يا تر هغه هم کمه موده پاتې وي، نوی غړی ددې قانون له حکمونو سره سم، د خدمت د بشپړې دورې لپاره ټاکل کېږي. | په مسوده کې د مادې منځپانګه زياته شوې ده او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br><br>د نافذ قانون د مادې متن په تعديل شوې بڼه د مسودې په اووه ويشتمې مادې کې تنظيم شوی دی. |

| | | |
|---|---|---|
| دسرغړاوي دتثبيت په صورت کې اړونده محکمه کولای شي د هغه دفعاليت امتياز سلب کړي | | |
| **يوولسم فصل**<br>**متفرقه حکمونه** | | |
| **<u>بهرنيواتباعو ته دفلم جوړولو حق</u>**<br>**اته څلويښتمه ماده :**<br>بهرني اتباع کولاي شي په هيواد کې سينمايي او مستند فلمونه توليد او برابرکړي په دې شرط چې دبهرنيو چارو له وزارت څخه پيژندليک اوداطلاعاتو اوفرهنګ له وزارت څخه يې مخکني اجازه ترلاسه کړي وي. | **د خدمت دوره**<br>**اته څلوېښتمه ماده:**<br>(۱) د رسنيو عـالي شـور انتخـابي غـړي او دې څېرکي کې د راغليو کمېسيونونو او مسلکي بورد انتخابي غړي، يوازې د خدمت د دوه دورو لپاره ټاکل کېدای شي. که چېرې دغه پېر، پرلپسې او يا بې له پرلپسې والي وي.<br>(۲) کـه چېـرې ددې مـادې پـه (۱) فقرې کـې لـه راغليو غړو څخه يو غړي، په يو ډول نه يو ډول خپـل غړيتـوب لـه لاسـه ورکـړي او د يـوې بلـې دورې لپـاره هم د هماغـه بنسټ د غړي پـه توګـه وټاکـل شـي، د هغـه د خـدمت دورې پـه دوو دوره کـې شـمېرل کېـږي، خـو داچـې د هغـه د خـدمت لومړی دوره، له يو کال څخه کمه وي.<br>(۳) د رسنيو عالي شورا غړي، په دې څېرکي کې د راغليو کمېسيونونو او مسلکي بورد غړي، بې له هغو حالتونو چې په دې قانون کې شتون لـري، د خدمت د دورې تر پايـه، لـه دندو څخـه نـه ګوښـه کېږي. | د مادې متن په مسوده کې زيات شوی دی.<br>د اته څلويښتمې مادې متن کټ مټ د مسودې په پنځوسمه ماده کې راغلی دی. |
| **<u>په اساسنامه کې له بدلونونو څخه خبرتيا</u>**<br>**نهه څلويښتمه ماده :**<br>(۱) دټوليزو رسنيو اوددغه قانون په اووه ويشتمه ماده کې ددرج شوو موسسو مسولين مکلف دي هرډول بدلونونه چې دفعاليت په ځرنګوالې يادريدو ، پتې ، اساسنامې اوپدې قانون کې په نورو درج شوو مشخصاتو کې رامنځته کړي داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت ته دې خبرورکړي.<br>(۲) دټوليزو رسنيو او د دغه قانون په | **د چاپي رسنيو ځانګړتياوې**<br>**دېرشمه ماده:**<br>د چـاپي رسـنيو اداري، د خپلـې خپرونـې د ځانګړتياوو په اړه لاندې ټکي څرګندوي:<br>۱- د خپرونې نوم؛<br>۲- پته؛<br>۳- د ټليفون شمېره او ايميل؛<br>۴- د چاپخونې نوم او ځای؛<br>۵- د امتياز څښتن او مسؤول مدير نومونه؛<br>۶- د خپرېدو نېټه؛<br>۷- پرلپسې ګڼه؛<br>۸- انترنېټ پانـه ( وېب پانـه )، کـه چېـرې شـتون | د نافذ قانون د نهه څلويښتمې مادې تعديل شوې بڼه د مسودې په نولسمه ماده کې راغلې ده.<br><br>د مسودې نهه څلويښتمې مادې متن د نافذ قانون د يوولسمې مادې تعديل شوې بڼه ده. |

| | | |
|---|---|---|
| اووه ویشتمي مادي کې ددرج شوو مؤسسو مسئولین مکلف دي چې داحصائیوي معلوماتو په خاطر د هرکال په پیل کې د خپل فعالیت د دوام یا نه دوام په اړه داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت په جریان کې کړي. | ولري؛<br>۹- د لیکوال پلاوي د غړو نومونه، که چېرې شتون ولري. | |
| **<u>دبهرنیو آژانسونو اورسنیو دنمایندګیو مکلفیت</u>**<br>**پنځوسمه ماده :**<br>(۱) دبهرنیو آژانسونو اوټولیزو رسنیو هغه نمایندګي چې په افغانستان کې دفعالیت هوډ لري ، مکلفي دي چې دافغانستان داسلامي جمهوریت دبهرنیو چارو له وزارت څخه دفعالیت دپیژندلیک په ترلاسه کولو سره له اړوندهیواد اودخپل فعالیت دځرنګوالي اودفعالیت دمودي اوځای په هکله په لیکلي توګه داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت ته خبرورکړي اودخبریالي ځانګړي کارت دې ترلاسه کړي.<br>(۲) ددغې مادې په لومړي فقره کې درج شوي آژانسونه او رسني ددغه قانون دپنځه څلویښتمې مادې دحکم په پام کې نیولو مکلف دي. | **بهرنیو اتباعو له خوا د فلم د چمتوکولو حق**<br>**پنځوسمه ماده:**<br>بهرني وګړي کولای شي په افغانستان کې مستند او سینمایي فلمونه د اړوند تقنیني سند له مخې، چمتو او تولید کړي، په دې شرط چې د هېواد د بهرنیو چارو وزارت څخه یې پیژندلیک او د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت څخه یې مخکینۍ اجازه ترلاسه کړې وي. | د نافذ قانون د پنځوسمې مادې منځپانګه په تعدیل شوې بڼه د مسودې په نولسمه ماده کې شتون لري. |
| **<u>د کتاب، رسالې اوخپرוونکې ثبتول</u>**<br>**یوپنځوسمه ماده:**<br>کتاب اورساله دخپروونکي له خوا له خپریدو وروسته داطلاعاتو او فرهنګ په وزارت کې ثبتیږي او دهغو دامتیاز خاوند مکلف دي له هر کتاب، مقالې اوخپرونې څخه دوه دوه نسخې داطلاعاتو او فرهنګ وزارت او عامه کتابتون ته ولیږي. | **د راډیوګانو او ټلویزیونونو بهرنۍ خپرونې**<br>**یوپنځوسمه ماده:**<br>(۱) د افغانستان د ملي راډیوټلویزیون د فریکونسۍ له لارې د بهرنۍ راډیو او یا ټلویزیون خپرونې، د افغانستان د ملي راډیوټلویزیون د کمېسیون له تایید، د رسنیو د عالي شورا له تصویب له منظورۍ وروسته ترسره کیږي.<br>(۲) په سیاسي ګوندونو پورې تړلې راډیو ګانې او ټلویزیونونه څخه پرته، خصوصي راډیوګانې او ټلویزیونونه کولای شي چې د بهرنیو چارو وزارت له موافقې او د اطلاعات او فرهنګ وزارت له جواز وروسته، د بهرنیو رسنیو خپرونې ددې قانون او د هېواد نورو نافذو قوانینو د حکمونو په رعایت، له خپلې فریکونسۍ خپرې کړي. | د مادې منځپانګه په مسوده کې زیاته شوې ده.<br>د نافذ قانون د پنځوسمې مادې منځپانګه د کاپي رایټ په قانون پورې تړاو لري څکه حذف یې وړاندیځ شوی دی. |

| | | |
|---|---|---|
| **د قوانینو وضع**<br>**دوه پنځوسمه ماده :**<br>دچاپ حق (کاپي رایت ) د صنفي اتحادیو جوړول، درسنیو دسرغړونو جزائي حکمونه، اعلانونه اودمعلوماتو غوښتل له جلاقوانینو سره سم تنظیمیږي. | **په بهرنیو بنسټونو پورې اړوند چاپي رسنۍ**<br>**دوه پنځوسمه ماده:**<br><br>(۱) په افغانستان کې بهرنۍ سیاسي نمایندګۍ د قانون د حکمونو په رعایت کولای شي خپله خبرپاڼه بې له ثبته چاپ او خپره کړي، خوداچې په متبوع هېواد کې یې د افغانستان د سیاسي نمایندګۍ لپاره شرایط اېښودلي وي، پردې بنسټ ورته شرایط ورته اېښودل کېږي.<br><br>(۲) د نړیوالو او دولتونو ترمنځ مؤسسو نمایندګۍ کولای شي په خپلو کاري برخو کې اړوند وزارتونو او بنسټونو ته د مخکېني خبر په ورکړې سره، پوهنیزو څېړنو او مهالنۍ او نامهالنۍ خپرونو په چاپ او خپرولو لاس پورې کړي.<br><br>(۳) د څېړنیزو او پوهنیزو راپورونو چمتو کول او خپرول یې د اړوند وزارتونو او بنسټونو ته په مخکېنۍ خبرتیا په ورکړې ترسره کېږي. | د نافذ قانون د دوه پنځوسمې مادې له منځپانګې څخه د مسودې په متن کې یادونه نه ده شوې ځکه چې د قوانینو مور اساسي قانون دی نه فرعي یا عادي قانون نو په دې توګه په دې قانون کې نشو کولای د نورو قوانینو بنسټ او مبنا وټاکو کولای شو هغه په مستقیمه او یا نامستقیمه توګه له اساسي قانون څخه راوباسو. |
| **دمالیې ورکړه**<br>**درې پنځوسمه ماده :**<br>دټولیزو رسنیو اوددغه قانون په اووه ویشتمه ماده کې ددرج شوو مؤسسو له عوایدو څخه دقانون له حکمونو سره سم مالیه اخیستل کېږي. موقوتي او غیرموقوتي چاپي خپروني لدې حکم څخه مستثنی دي. | **د خپرونو او د ټولیزو رسنیو د چارو ریاست**<br>**درې پنځوسمه ماده:**<br>(۱) د ټولیزو رسنیو او رسنیزو بنسټونو ثبت او هغوی ته د فعالیت د جواز ورکول او د یادو رسنیو او رسنیزو بنسټونو له خوا ددې قانون د حکمونو پر رعایت څارنه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو او د ټولیزو رسنیو د چارو ریاست پر غاړه ده. د رسنیزو سرغړونو څېړنه په دې چاره کې نه ده شامله.<br><br>(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د راغلي اداري، د فعالیت ډول او دندې او واکونه، د جلا مقررې په واسطه تنظیمیږي. | د مادې منځپانګه په مسوده کې زیاته شوې ده او د نافذ قانون د درې پنځوسمې مادې منځپانګه حذف شوې ده. ځکه چې تکراري بڼه لري او د مالیاتو د ورکړې په برخه کې جلا قانون شتون لري او له بل لوري د دې مادې ۲ پاراګراف پرعایداتو باندې د مالیاتو له قانون سره په ټکر کې دی. |
| **دانفاد نیټه**<br>**څلور پنځوسمه ماده :**<br>دغه قانون په رسمي جریده کې دخپریدو له نیټي څخه نافذ دي او په نافذیدو سره | **سکرتریت** | د مادې منځپانګه زیاته شوې او په نافذ قانون کې شتون نلري.<br>د نافذ قانون د څلورپنځوسمې |

| | | |
|---|---|---|
| يي دټولیزو رسنیو هغه قانون چې د ۱۳۸٤ هجري لمريزكال دمرغومي دمياشتې په پنځلسمه نیټه درسمي جريدې په ( ۸۷۱) گڼه کې خپورشوي دي، لغو گڼل کيږي . | **څلورپنځوسمه ماده:**<br>د رسنیو عالي شورا، د رسنیزو سرغړونو د څېړني کمېسیون، د افغانستان د ملي راډیوټلویزیون د کمېسیون او باختراطلاعاتي آژانس، د اداري چارو د پرمخ بېولو لپاره هر يو يې، جلا سكرتريت د اړوند طرزالعمل له مخې جوړوي. د ياد سكرتريت دندې د اړوند بنسټ په طرزالعمل کې تسجيلیږي. | مادې متن په تعديل شوې بڼه په اته پنځوسمه ماده کې شتون لري. |
| | **مقررې، اساسنامې، لایحې او لارښودونه**<br>**پنځه پنځوسمه ماده:**<br>(۱) د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت کولای شي، ددې قانون د حکمونو د ښه پلیتوب په موخه، مقررې او اساسنامې له پړاوونو تېرې او لایحې او لارښودونه جوړ کړي.<br>(۲) د افغانستان د ملي راډیوټلویزیون کمېسیون او د باختراطلاعاتي آژانس د مسلکي بورد هم کولای شي په اړونده برخه کې ددې قانون د حکمونو د پلي کولو د مقررو طرحې له پړاوونو تېرې او لایحې او طرزالعملونه تصویب کړي. | ماده زياته شوې ده. |
| | **ارجحيت**<br>**شپږ پنځوسمه ماده:**<br>(۱) که د نورو قوانینو او تقنیني سندونو کوم حکم ددې قانون له حکمونو سره په مغايرت کې وي، د دې قانون حکم د رسنیو او رسنیزو بنسټونو په برخه کې غوره گڼل کیږي.<br>(۲) که ددې قانون کوم حکم د هغو نړیوالو تړونونو او کنوانسیونونو له موادو سره چې د افغانستان دولت يې د اساسي قانون له مخې په رعايت مکلف دی په تعارض کې وي، د اړوند نړیوال تړون او کنوانسیون مواد د هېواد د اساسي قانون د حکمونو په رعايت، ارجحيت لري. | ماده زياته شوې ده. |
| | **انتقالي حکم**<br>**اووه پنځوسمه ماده:**<br>ددې قانون په لسم څپرکي کې راغلي رسنیز جوړښتونه، ددې قانون له نافذېدو وروسته، زيات نه زيات د شپږو میاشتو د مودې په دننه کې | ماده زياته شوې ده. |

| | | |
|---|---|---|
| | جوړېږي او په جوړېدو سره يي د مخکيني قانون له مخې د رامنځ ته شويو اړوند جوړښتونو کار پای ته رسيږي. | |
| | **د نافذېدو نېټه**<br><br>**اته پنځوسمه ماده:**<br><br>دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې وروسته نافذېږي او په نافذېدو سره يي د ١٣٨٨ هجري لمريز کال د چنګاښ د پينځلسمي نېټې د رسمي جرېدي په (٩٨۶) ګڼه کې خپور شوی د ټوليزو رسنيو قانون لغوه ګڼل کيږي. | |